منبع الجهاد

علمي ، جهادي ، سياسي خپرونه

دجګړو قهرمان دسولې په دفاع کې

(په راتلونکي ګڼه کې)

که په واقعي توګه لکه موږ چې پشنهاد کړی ؤ داهل حل اوعقد شورا دائره شوی وای دجګړو مصيبتونه او دعدم استقرار ستونزی به له منځه تللی وی

الحاج مولوي جلال الدين « حقاني »

دحل او عقد شورا دتزکيې ، تکميل او توافق پر ضرورت ټينګار ولی بې نتيجې پاتې شو ؟

جنګ هاي خونين اخير نتيجه پيش امدهاي قبلي

دهيواد دبحران په حل کولو کې دحل اوعقد شورا دناکامي مسؤل څوک دي ؟

په کابل کې داهل حل اوعقد شورا دتدوير او دهيواد دمشر ټاکلو دپروسې لړزوونکي انکشافات

دواکمنو او جهادی مشرانو خصوصی ليکنی ،غوښتنی ، اسناد او متفاوت دريځونه

نګرش کوتا: بر متن ورق پاره‌اي تحت عنوان (تفسيري از کلمهٔ سوء تفاهم)

داهل حل اوعقد شورا دیرښه چانس ؤ ځکه پدي سره دموجوده بحران مخه نيول کيدي شوی خو متأسفانه واکمنو له تعجيل څخه کار واخيست او داچانس يې له خپله لاسه ورکړ : الحاج ،حقاني ،

بسم الله الرحمن الرحيم

الهي فرمان

ترجمه:

اودخلکویوه ډله ده چي په دنیا کي ددوي خبری ستاسی لپاره دتعجب او حیرانتیا وړدي - اودوي پخپلو زړونو باندي الله(ج) گواه نیسي پداسي حال کی چي دوی سخت دښمنان دي - کله چي دوي ته په ځمکه کي اقتدار وسپارل شي - هلته فساد کوي، فصلونه او نسلونه تباه کوي او الله تعالي مفسدين نه خوښوي البقره-٢٠٤

منبع الجهاد

علمي ، جهادي ، سیاسي خپرونه

مؤسس : الحاج مولانا جلال الدین «حقاني»

دتأسیس کال : ۱۳٦۸ هـ ش ، ۱٤۰۹ هـ ق

احمد شاه ((وحدت))

Ahmad Shah (Wahdat)

A. K. P. O.

څلورم کال ، دریمه گڼه د ۱۳۷۱ هـ ش کال مرغومي ، سلواغه ، د۱۹۹۳ م کال جنوري ،فبروري د۱٤۱۳هـ ق رجب المرجب شعبان المعظم

دهیئت تحریر تر نظرلاندي

مکاتباتي پته

پوست بکس نمبر (۱۰۳۳) یونیورستي

ټاون – پیښور

دتیلفون نمبر:(۸۲۰)میرانشاه

بانکي پته

حبیب بانک ،کنټ برانچ صدررود څانگه

دحساب نمبر :۲۰۵۵۹

پیښور – پاکستان

کمپوزر: نجیب الله «ګدران»

په دي گڼه کی

شمیر	عنوان	مخ
۱	:- سرمقاله	(۲)
۲	:- داشتباهاتو دتکرار پرځاي	(٤)
۳	:- څرنګه چي دشرعي امیرد.	(۹)
٤	:- داهل حل اوعقد شورا باید داهلیت	(۱۲)
٥	:- مون باید دالله (ج) بندگان	(۱۷)
٦	:- داقتدار د دوام په خاطر	(۲۰)
۷	:- په کابل کي داهل حل اوعقد شوراد......	(۲٥)
۸	:- که چیري په واقعي توکه	(۳۹)
۹	:- نګرش کوتاه بر	(٤۱)
۱۰	:- نامهء پیر سیداحمد گیلاني	(٤٥)
۱۱	:- نامهء انجنیر حکمتیار	(٤۷)
۱۲	:- جهادي ادب	(٤۹)
۱۳	:- سوال (تکل)	(٥۱)

بسم الله الرحمن الرحيم

سرمقاله

جنگ هاي خونين اخير نتيجه پيش امد هاي قبلي

رهبران كنوني دولت افغانستان از طريق تدوير شوراي نامكمل كه ساختار آن براي همه گروهاي جهادي قابل قبول نبود از يكطرف حيثيت قانوني شوراي حل وعقد راجريحه دار ساخت واز طرف ديگر دركسب پشتوانه ملي وصبغه قانوني موفقيتي بدست نياورد .

ازهمين جهت است كه حكومتي با ساختمان ضعيف خود نخواهد توانست بر بحران ومشكلات ناشي از اختلافات وحملات بر شهر فايق ايد ودر تأمين صلح واستقرار توانايي از خود نشان دهد.

گرچه قبل از تدوير شورا الحاج مولوي جلال الدين حقاني ، اتحاد علماي افغانستان وقوماندانان جهادي سعي وتلاش زياد نمودند كه شورا بعد از اصلاح وتكميل ان باتوافق وشركت همه نيروهاي جهادي دائر شود تازعامت اينده مشروعيت قانوني واطاعت عام وتام راكسب نمايد ولي حكام از عجله كار گرفته باسطحي نگري درين رابطه اين چانس وفرصت را از دست دادند .

هرگاه شورا بعد از تكميل وتوافق همه ، حكومت وزعامت موجوده را انتخاب مي نمود در انصورت اين زعامت وحكومت مشروعيت قانوني و پشتوانه وسيع ملي را بدست مي اورد كه صلاحيت حل مشكلات موجوده ونجات ازبحران فعلي را نيز دارامي بود .

ولي حكومت با اين اقدام عجولانه از توانمندي خود كاست از همينرو هرجناح با اعمال زور، فشار وتهديدات در صدد كسب امتيازات براي خود وگروهش مي باشد و دولت ناچار باين همه مخالفت ها به تسليم وسازش تن دردهد كه درينصورت با تضعيف افزونتر ازين مواجه خواهد شد .

اكنون علاوه بر نيروهاي پنج گانه جهادي كه مشروعيت حكومت رازير سوال قرار داده ومخالفت خودرا با طروق تعين حكومت اعلان داشته . ،دوستم وساير گروهائيكه سابقه دشمنانه در قبال جهاد مقدس دارند وبحيث اله

دست اجانب فعاليت مي نمايند ازين ضعف و تشديد اختلافات با دولت مي خواهند به نفع خود استفاده نمايند ، چنانكه موقف اخير انها مبني بر اعلان معياد براي پذيرفتن خواسته ها وتقاضاي امتيازات دال براين مدعا است كه دولت را به فحوي ضرب المثل پشتو (مي خواهد از انگشت زخمي گرفته) با اعمال تهديد وفشار درپذيرفتن مطالبات ناجائز خود سعي نمايند .

از همينرو گروهبندي هاي جديد روي منافع گروهي در حال بميان امدن است كه در تشديد بحران خواهد افزود.

اي كاش در ابتدا چنين نمي شد وجناحها وقوت هاي رژيم رابه شكل ائتلاف دريك حركتي كه خود ارج گذاشتن وبزرگ جلوه نمودن انها راباز گومي كرد پذيرفته نمي شدند .

در حقيقت دولت از همان ابتداء باحركت ائتلافي وبعد دفاع وحمايت از دوستم وامثالش انها را تا اين حد با وز وتوانمند جلوه داد كه نقش اساسي را درسقوط نجيب به ايشان مي بخشيد ، درحاليكه رژيم هم از نظر سياسي وهم از نظر نظامي در حال سقوط حتمي وكامل بود ، درين صورت معامله كردن با جناحهاي رژيميكه در حال شكست حتمي است از همان اول موجبات ادامه وتشديد بحران را بوجود اورد .

ما از همان اول جنگ را طريق حل ندانسته نجات از بحران را در تفاهم ، مذاكرات وخود گذري جستجونمود ومي نمايم .

به همين اساس بود كه الحاج مولوي جلال الدين حقاني به تعقيب فعاليت هاي صلح جويانه خود بخاطر اينكه جنگ وخونريزي قطع شود سعي ميكرد كه شوراي حل وعقد بعد از اصلاح وتكميل ان باتوافق واعتماد تنظيم هاي جهادي بشكل واقعي ان دائر شود تا حكومتي انتخاب شود كه براي همه قابل قبول بوده هر نوع جواز وامكان مخالفت ان از بين برده شود .

متاسفانه كه در زمينه چنانچه قبلاً نيز گفتم از سطحي نگري وتعجيل كارگرفته شد ،نتيجه اين عملكرد عجولانه جنگ هاي شديد وتباه كني است كه درين چند روز در كابل جريان دارد وصدها كشته وزخمي بجاگذاشته و به تخريب اماكن ومنازل انجا ميده است .

اين جنگ هاي خونين وزمستان سرد كه مواد خوراكي ،دارويي وسوخت نيز دسترسي نميكند شهريان كابل را در چنگال يك فاجعه ديگر قرار ميدهد .

طبق گذارش رسانه هاي خبري جنگ به چندين ناحيه شهركابل سرايت كرده وبه مناطق شرقي ،جنوبي وغربي وسعت يافته است .

خطر امكانات همين جنگ ها وحوادث ناگوار بود كه بخاطر جلوگيري ان الحاج مولوي جلال الدين حقاني ،اتحاد علماي افغانستان وقوماندانان جهادي توافق ، تزكيه وتكميل شوراي حل وعقد را ضروري ميدانستند تادر انتخاب ومشروعيت بخشدن حكومت موفق بوده باشد .

ما درين شماره مجله همين موضوع را با ارائه اسناد ويك سلسله حقايق انكار ناپذير با توضيح فعاليت ها وتلاش هاي درين زمينه با هموطنان خود در ميان مي گذارنيم تا در روشني اين واقعيت ها عوامل عدم موفقيت شورا در راه نجات بحران هويدا گشته ودر حاضر روي حقايق وواقعيت ها حساب نموده از تكرار اشتباهات وتجارب تلخ گذشته جلوگيري شود .

سیاسی تبصره

داشتباهاتو دتکرار پرځای باید داشتباهاتو دجبران په لټه کې شو

ننګیال

دروان کال په ثور کې دکابل دکمونست رژیم سقوط که له یوي خوا دافغانانو لپاره دفتحې اوخوشحالي جشن ګڼلې شواي نو له بلې خوا دیوه ائتلافي حرکت ناسنجول شوي پروسي په هیواد کي دبي ثباتي ، بي امني اوکورنیو جګړو یوه نه ختمیدونکي لړي رامخي ته کړه .

دنجیب رژیم له سقوط وروسته دهمدغه ائتلافي ړلبندي له عواقبو څخه دراولاړشویو حادثو جهت درژیم له بریڅوڅخه دقدرت انتقال دیوه داسي ضعیف فورمول او نیمګړي طرحي له مخي بنه غوره کړه چي له هماغه لومړي ورځي په عدم استقرار، داخلي مخالفتونو او جګړو منتج شوه.

دپیښور دمعاهدي په نوم ددوه اوڅلور میاشتنو واکمني هغه هم په یوه جنګ ځپلي هیواد کي چي دنظم اوقانونمندي اصل یې لاپخوا له منځه تللي یواځي د آني اوفوري مصلحتونو په عنوان کولو خپله داجراتو په طرز کي د دوګانګي سبب وګرځید او له همدي لاري دقانوني خلاڅخه راپیدا شوي بې امني اوګډوډي لا پراختیا ومونده .

مونږ ولیدل چي دپیښور دمعاهدي په نوم دهمدغه ضیعفي طرحي او داقتدارد اشتراك پروسي په کابل کي دقدرت متعدد مرکز ونه رامنځ ته کړل چي لاتر اوسه هم ددغو متعدومرکزو داقتدار ساتلو دهلوځلو په مسابقه کي ولس دمرګ ،لوټ او په مال او عزت دبلوسي له ګواښ سره مخامخ دي .

دنجیب رژیم دراپرځولو لپاره معامله کول پداسي حال کي چي

> مورډ ولیدل چې دپیښور دمعاهدې په نوم ضعیفې طرحې او اقتدار داشتراك پروسې کابل کې داقتدار متعدد مرکزونه رامنځ ته کړل چې لاتر اوسه هم ددغو متعدو مرکزوداقتدار ساتلو دهلو ځلو په مسابقه کې ولس دمرګ ،لوټ او په مال او عزت دبلوسې له ګواښ سره مخامخ دی

رژیم په پوځي او سیاسي دواړو برخو کې له محتوم شکست سره مخامخ وُ یقیناً چې دیوه مجاهد او قهرمان ولس دځورلس کلنو قربانیو پرسر له سیاسي تجارت او یوې ستري جفا پرته بل څه نشي ګڼل کیدي .

له بلي خواپداسي حال کې چې لادرژیم پاتي شوني په پوځي اوسیاسي لحاظ فعال وُ کابل ته دپورتنۍ طرحې له مخې دمجاهدینو دمشرانو او تنظیمونو نوتل خپله ددوی جهادي پرستیژ ترسوال لاندې راوستلي وو.

له همدې ځایه ده چې په کابل کې دقدرت دمسابقې لوبه ښه توده شوه او داقتدار دساتلو او تر لاسه کولو خونړۍ جګړې یې رامنځته کړي .

که څه هم دالحاج مولوي جلال ـ الدین حقاني دسولي دهلو ځلو له مخې جګړه بنده شوه او دسولي دمسودې په تصویب او اعلانولو دجګړې دبیخي ختمیدو چانس لاس ته راغې خو ددولتي واکمنو او مقابل لوري عدم همکاري او دفیصلې له مندرجاتو سرغړوني دیوې بلي جګړې اور تازه کړ.

پخپله ددولتي واکمنو په منځ کې دسیالي نااندریو ډیره خندوونکې بڼه غوره کړي وه ددولت دمشل شوراي نظار ، دفاع وزارت او جمیعت اسلامي تر منځ دصلاحیتونو او دولتي امکاناتو پر سر دتودې نزاع تاوده جنجالونه او تلاشونه رامنځ ته شول .

له ښاغلي مجددي څخه له واك تر لاسه کولو سره دیوې بلې خونړۍ جګړې لمبې پورته شوې پدې توګه دیوه قانوني حکومت درغاونې لپاره چې دشورا دانتخاب اوتدویر کوم ضرورت په مخ کې وُ هغه داستاد رباني په څلور میاشتني واکمني کې ترسره نشو ، له همدې ځایه وه چې دقدرت دانتقال جنجالونو یو ځل بیا سر پورته کړ خودیوې نیمې میاشتې تمدید داهل حل اوعقد شورا دحتمي جوړیدو لپاره دیوه ښه فرصت په توګه ومنل شو .

دعدم استقرار،بې امنۍ او دجګړو له اندیښنو سره سره خلك دې ته هیله من وه چې داهل حل اوعقد شورا دتدویر له لارې به یو داسې حکومت انتخاب شي چې هغه به دټولو لپاره دقبول وړ اوله شرعي او قانوني حیثیت څخه برخمن وي .

خوداهل حل اوعقد شورا لپاره ددولت له خوا دتاکل شوې کمسیون له اعلانیدو اوفعالیت سره یولړشکونه رامنځ ته شول څرنګه چې اهل حل اوعقد شورا له موجوده بحران څخه دوتلو وروستي فرصت او دیوه منتخب اسلامي حکومت دټاکلو اخري

چانس دي ددي لپاره چي دیولږ ناسمو اجراتوله مخي دهغي قانوني حیثیت جریحه دار نشي الحاج مولوي جلال الدین حقاني داتحاد علماي افغانستان ، جهادي قوماندانانو او مخورو په ملتیاپه داسي هلو ځلو لاس پوري کړ چي دهغي له امله دحل اوعقد شورا نمایندگان په شرعي طریقه یواځي داهلیت له مخي غوره کړي شي څودهغوي دانتخاب او سالمي کارکردگي په اړه له چاسره دانتقاد او مخالفت جواز پاتي نشي

ځکه خو دوي یوه نیمه میاشت مخکي واکمنو ته پشنهاد وکړ ددي لپاره چي دنمایندگانو انتخاب په سمه طریقه شوي وي او په اینده کي څوك له دولتي امکاناتو څخه پدي لار کي داستفادي تور ونه لگوي او دقومیت ، حزبیت او سمت دملحوظاتو له اغیزو څخه خوندي وي په کارده چي ددولت له ټاکل شوي کمسیون اوهیئت سره یو تن عالم او یوتن قوماندان دڅارونکي په توگه کاوکړي چي دنمایندگانو انتخاب له قانوني حیثیت څخه برخمن شي ځکه

> که داپریکړه منل شوي واي او له تکمیل وروسته دشورا دتدویر له لاري دحکومت مشر ټاکل شوي وي هغه به قانوني او شرعي حیثیت غوره کړي ؤ او ټول به یي په اطاعت مکلف او یو قوي مرکزي حکومت او نظام به رامنځ ته شوي ؤ

علمأ او قوماندانان پدي معتقد دي چي که دحل اوعقد شورا په سمه او شرعي طریقه تدویر شي کولي شي هیوادته له موجوده بحران څخه نجات ورکړي او که پدي کي له جعل، تحزب، قومیت او داسي نورو ملحوظاتو څخه کار واخیستل شي او اتفاقي بنه ونلري نه یواځي داچي داموجوده مشکلات به حل نشي کړي بلکي نور مصیبتونه به هم رامخي ته شي خوله بد بخته واکمنو پدي رابطه د اخلاص څرگندونه ونکړه هماغه ؤ چي پدي هکله دزیاترو جهادي تنظیمونو او حلقو مخالفتونه څرگند شول او دنمایندگانو په ټاکنه کي یي دولت په جعل کاري او تقلب تورن او دا شورا یي تحریم کړه .

ددي لپاره چي شورا یوه سم او شرعي جهت ته سوق اوتدویر لپاره یي زمینه مساعده شي بیا هم علماوو او قوماندانانو هر اړخیزي هلي ځلي وکړي دوي دشورا دتزکیي ،اصلاح او تکمیل دغوښتني ترڅنگ داهم ضروري وبلله هغه مشران چي شورا یي تحریم کړي باید په شورا کي په برخه اخیستلو قانع کړي شي. او تر څو چي داکار بشپړ کیږي شورا باید وځنډیږي او څرنگه چي ددولت رئیس تمدید شوي موده هم پاي ته رسیدلي هغه سبایي دچارو واکي خپل مرستیال مولوي محمدنبي محمدي ته پریږدي او دهغه تر اداري لاندي د شورا داصلاح تکمیل او تدویر پروسه بشپړه او عملي شي .

داد حل یوه ډیره معقوله منطقي او قانوني لاره وه چي که داپریکړه منل شوي واي او له تکمیل وروسته دشورا دتدویر له لاري دحکومت مشر ټاکل شوي وي هغه به قانوني او شرعي

حیثیت غوره کړي ووا وټول به یي په اطاعت مکلف او یو قوي مرکزي حکومت او نظام به رامنځ ته شوي وُ .

په همدي وخت کي چي دولتي واکمن دشورا په رابطه دپنځو جهادي تنظیمونو او کنو ولایتي شوراګانو له مخالفت سره مخامخ وُ خپله د حکومت په ائتلافي جوړښت کي هم درزونه رامنځ ته شول له حزب وحدت سره دحکومت دیوي اوني خونړي جګړي تر څنګ دوستم هم دحکومت په وړاندي دخپلو شرطونو او غوښتنو دمنلو پرسر موضیعګیري کړي وه ، پدي توګه دنویو ډلبندیو او ائتلافونو امکانات اوازي خپري شوي وي .

په همدي رابطه دلیندي په څلورویشتمه نیټه په کابل کي یوه پانه وویشل شوه چي دپیر ګیلاني په مشري یي دحزب وحدت ، دوستم ، او مجددي دګړي کودتا په اړه چي ببرک یي دهغي طراح او دحزب وحدت دجګړي په بنه راڅرګنده شوي وه ځیني مطالب خپاره کړي وو اودوي یي دیوي ګډي ائتلافي جبهي په جوړیدو تورن کړي وو .

(۱) پدغه پانه کي پدي اعتراف شوي چي دوستم دببرک له خوا تحریک شوي او زیاته شوي چي جمیعت دحزب وحدت او دوستم په دفاع کي ډول ډول اتهامات په ځان منلي له همدي ځایه یي دواړه دجمیعت دزړه سوي او همکاري په تر پښو لاندي کولو پړه بللي چي ځانونه یي یوه ځواکمن متحد څخه بي برخي کړي دي ، پدي پانه کي لدوي څخه غوښتنه شوي چي خپل دغه حرکت جبران کړي .... ددغه پاڼي مطلب په هغه څه اعتراف دي چي له اوو میاشتو راهیسي یي دولتي واکمن ردوي او هغه ددوستم اوحزب وحدت تر شاه دپرچم دډلي او ببرك موجودیت اولدوي سره ائتلاف دي چي اوس هم غواړي دا هیواد او خلك له نویو بدبختیو سره مخامخ کړي او دخپلو راتلونکو خائنانه پلانونو لپاره لار خلاصه کړي .

په همدي تاوجنو حالاتو کي چي ددولت دڅرګندي لاسوهني له امله دشورا نمایندګان کابل ته راورسیدل واکمن له سختو مخالفتونو سره مخامخ شول ، الحاج مولوي جلال الدین حقاني ددي لپاره چي دشورا د تدویر په اړه دیر کار او مصروف شوي ددغي شورا دبریالیتوب لپاره داضروري وګڼله چي دشورا دقانونیت او توانمندي لپاره کاروشي ، ځکه چي که شورا ناکامه او یاهم په ناقصه توګه دائره شي نه یواځي داچي موجوده کړکیچونه او مشکلات یي نشواي حل کولي بلکي نوري ستونزي اومصیبتونه هم رامنځته کیداي شواي داچي حل اوعقد شورا یو اسلامي اصل دي چي دهغي بدنامي٬ ناکامي اوضعف بیاله جبران کولو لوړ دي، داستاد رباني تمدید شوي موده چي دهمدي کار لپاره شوي وه هم پاي ته رسیدلي وه پدي وخت کي تر ټولو غوره حل او طرحه چي دعلماوو او قوماندانانو وړاندي کړي وه . داوه چي جمهوررئیس د څلور واکي خپل مرستیال ته چي قانوني حق لري وسپاري او دهغه تر اداري لاندي د شورا داصلاح تزکیي او تکمیل پروسه بشپړه او دانتقادونو او

(۱) دغه پانه مونږ دهمدغه ګڼي داسنادوپه برخه کي خپره کړي

استاد رباني دعلماوو او قوماندانانو دپشنهادونو او پريکړو دنه عملي کيدو داشتباه ترڅنګ له خپل انتخاب څخه وروسته داهم وويل چي نور دسولي لپاره دعلماوو اوقوماندانانو دفعاليت ضرورت نشته ځکه نوردوه طرفه وجود نلري چي تر منځ يې سوله راشي

شکايتونو په رفع کولو کي اقدام وشي خو له بده بخته چي واکمنو دومره معقول حل عملي کولو ته موقع ورنکړه او دناقصي شورا دتدوير او انتخاب له امله دحکومت قانونيت او مشروعيت ته شديده صدمه ورسيده او هغسي يو حکومت جوړ نشو چي په اتفاقي شکل دټولو جهادي اړخونو دتوافق او واقعي شورا له لاري انتخاب او دکامل اطاعت او قوت څخه برخمن او سوله امن او استقرار تامين کړي شي .

پدي برخه کي سياف صاحب دپيښور ديتيم خاني دهغه ناقصي او نامانوسي طرحي اومعاهدي پر اشتباه برسيره يوه بله اشتباه هم تکرار کره او هغه ددغه نه تکميل شوي او ناقصي شورا په تدوير کي له استاد رباني سره غاړه غړي کيدل وُ چي دپرونيو جنجالونو او مصيبتونو ددوام تر څنګ دنويو کړکيچونو په توګه يي خپله واکمن هم له ضعف او نورومشکلاتوسره مخامخ او له ملي پشتواني بي برخي کړل. زموږ پوخ باور دي چي دصدارت،وزارتونو او ولايتونو په وعدو او ددي پرسر معامله کول او داقتدارسازشونه دحل لاره نشي کيدي .

استاد رباني دعلماوو او قوماندانانو دپشنهادونو او پريکړو دنه عملي کيدو داشتباه تر څنګ له خپل انتخاب وروسته داهم وويل چي نور دسولي لپاره دعلماوو او قوماندانانو دفعاليت ضرورت نشته ځکه نور دوه طرفه وجود نلري چي تر منځ يي سوله راشي . خو لکه چي وليدل شول دشديدو مخالفتونو اوپر کابل دحملي ګواښونو وضعه له پخوا ډيره خرابه او بحراني کړه او دولت ونشواي کولي دخپل نوي انتخاب له لاري داطاعت او قوي مرکزيت پشتيوانه ترلاسه کړي ، او له پخواني محاصره شوي حالت څخه ووځي ، همدا وُ چي دحزب اسلامي دوروستي ګواښ له مخي دسولي او اوربند لپاره دفعاليت او هلو ځلو ضرورت ته اړشو .

له همدي ځايه ده چي واکمن اودهغوي حليف بايد پخواني اشتباهات تکرارنکړي دسولي او استقرار لپاره د مخکنيو فرصتونو دضايع کولو دجبران له لاري دعلماووجهادي قوماندانانو، سياسي پوهانو او قومي مخورو سره دتفاهم له مخي ديوه داسي جامع حل په لټه کي شي چي له شرعي حيثيت څخه برخمن او دقانوني او ملي پشتواني لرونکي او ديوه نظام او قانون په چوکاټ کي دراتلونکي لپاره دربرو او مسايلو د حل محور وګرځي .

وماعلينا الاالبلاغ

الحاج مولوي جلال الدين حقاني له بي،بي ،سي سره په مرکه کی:۱۳۷۱/۹/۲٤

ددي لپاره چي داهل الحل والعقد شوا په شرعي طريقه دامير دانتخاب پروسه پر مخ بوزي او په اتفاقي بڼه دتولوجهادي اړخونو دتايئد له مخي شورا تکميل او دنيمگړتيا وو او ملاحظاتو درفع کولو لپار زمينه مساعده او داختلافاتو مخرونيول شي ،داتحاد علماي افغانستان غړو ، جهادي قوماندانانو او مخورو د ۱۳۷۱ لمريز کال دليندي مياشتي په ۲٤ مه نيته دخپلو خير غوښتونکو فعاليتونو په لړ کي يوه پريکړه وکړه (چي متن يي درانه لوستونکي په همدغه گڼه کي لوستلي شي) چي دولتي واکمنو او جهادي مشرانو ته يي وړاندي کړه ، پدي رابطه دبي ، بي ،سي دپښتو څانگي خبريال له محترم الحاج مولوي جلال الدين حقاني سره مرکه وکړه چي دداي بشپړ متن يي پدي گڼه کي خپريږي . اداره

څرنگه چي دشرعي امير دټاکني په هکله داهل الحل والعقد شورا وظيفه او مسؤليت ډير مهم او دروند دی ځکه خو بايد داکار سطحی ونه گڼل شی اوله ډير غوراو دقت څخه کار واخيستل شی

پوښتنه : داسي فيصله شوي وه چي بايد په ټاکلي وخت داهل الحل والعقد شورا دائره شي ، خو اوس معلوميږي چي شورا به په ټاکلي وخت جوړه نشي ، له بلي خوا استادرباني هم قدرت ندي پري ايښي تاسي پدي رابطه څه تجويز واړندي کړي او په څه اقدام مولاس پوري کړي دي؟

ځواب : درباني صاحب هغه موده چي پنځه څلويښت ورځي تمديد شوي وه دادي لپاره وه چي داهل الحل والعقد شورا جوړه شي او بيا په رسمي توګه شرعي امير وټاکي هغه دځينو مشکلاتو او ملاحظاتو له مخي څه نيمگړتياوي لري دغه نيمگړتياوي او مشکلات څه خو دوروستي جگړي او څه دموسم دنه مساعدت او همدارنگه دشورا دغړو دانتخاب په رابطه هم څه ملاحظات او اعتراضونه موجود دي . نو نن ورځ داسي اټکل کيده چي داشورا غونډه وکړي ليکن بيا هم علماي کرامو ، قوماندانانو او مخورو نن دلته په پلچرخي کي غونډه وکړه او داپريکړه يي وکړه چي شورا داهل الحل والعقد چي ډير مصرف هم پري شوي او په اوسني وخت کي دحل يوازيني

لار هم ده باید چي پدي باندي موجوده مشکل حل شي ، او یو قوي مرکزي حکومت انتخاب شي چي ولایتونه ورسره وتړل شي اطاعت ورته وشي، امن راشي نو ددغو نیمګړتیاوو درفع کولو لپاره علماي کرامو ، قوماندانانو او مخورو غوښتنه وکړه چي دعلماوو او قوماندانانو دتزکیي یو هیئت داهل الحل والعقد دشورا کمسیون سره ګډ ددغي شورا تزکیه وکړي او کوم انتقادونه چي موجود دي هغه وڅیړل شي اودا چي ویل کیږي ځیني خلك دپیسو او داډول نورو امتیازاتو دورکړي له مخي رابلل شویدي او دقومیت او حزبیت له مخي داخلك غوره شوي دا لري شي او هغوي چي داشورا تحریم کړي هغوي هم دعوت او کیله یي رفع شي او پخلا کړي شي ، دغي پروسي که هر څومره وخت ونیو دا دعلماوو قوماندانانو او مخورو پریکړه ده چي ددغو نیمګړتیاوو او مشکلاتو په لري کولو کي به عملي قدمونه اخلي تر څو داهل الحل والعقد شورا په سمه او شرعي طریقه جوړه شي او داکومي هلي ځلي او مصارف چي شوي دابیځایه ولاړ نشي او موجوده مشکل له یوي مخي حل شي .

څرنګه چي اهل الحل والعقد شورا مسوولیت او وظیفه ډیره مهمه ده او هغه دمسلمانانو لپاره دشرعي امیر تاکل دي ځکه خو باید داکار سطحي ونه ګڼل شي ډیره زیاته پاملرنه او دقت ورته وکړي شي او له عجلي څخه کار وانه خیستل شي .په ځینو ولایاتو کي دغه اصل ته لازمه پاملرنه نده شوي او داسي کسان راغوښتل شوي چي هغوي دخپلوسیمودنمایندګي صلاحیت او کفایت نلري ځکه خو ددغو نیمګړتیاووا او نواقصو له منځه وړل ضروري دي چي باید دا ډول اعتراضونه او نیمګړتیاوي رفع شي .

له همدي ځایه ده چي علماوو او قوماندانانو داپریکړه وکړه چي په داسي وخت کي چي دمحترم رباني صاحب موده پاي ته رسیدلي او پدي لړکي له یوي خوا دقدرت خلا رامنځته نشي او له بلي خوا نا اهله سړي ته بي له قانون نه کار او امور ونه سپارل شي او رباني صاحب بي له کوم قانوني جواز نه په قدرت پاتي نشي ځکه دده په قدرت کي پاتي کیدل دجګړي او تشنج موجب ګرځي نو داسي فیصله وشوه چي مولوي محمد نبي صاحب چي هغه ددولت درئیس لومړي مرستیال دي في الحال دي استادرباني هغه ته دریاست واګي وسپاري او هغه پدي موده کي قانوناً ددي مستحق دي چي دده تر مشري لاندي داهل الحل والعقد شورا تکمیل شي دتزکیي چاري یي سرته ورسي او دائره شي او پدي توګه یو شرعي امیر په مسالمت امیز او شرعي طریقه وټاکل شي .

پوښتنه : داستارباني نظر پدي باره کي څه دي ؟

ځواب : استاد رباني ته موږ پدي رابطه یو پریکړه لیك لیږلي دي دوي زموږ هیئت ته ویلي چي بیګابه خپل ملګري راوغواړم له هغوي سره داخبره مطرح کوم له هغي وروسته به تاسي ته دپریکړي ځواب رسماً درکړم ، زما هیله ده چي رباني صاحب نور پدي مظلوم ملت له رحم او زړه سوي څخه کار واخلي همدارنګه باید هغه وخت هم په نظر کي ونیسي کله چي دحضرت

صاحب وخت پای ته رسیدلی ؤ هلته دي پير لالهانده و او کوښښ يي کاوه چي ژر تر ژره حضرت صاحب ده ته بي له چون او چرا واګي وسپاري که څه هم قيادي شورا چي غير قانوني هم وه دده پنځه ځلوينبت ورځني تمديد فيصله کړ او دي يي داهل الحل والعقد شورا په تدوير کي معذور و ګڼه خو اوس په دريم ځل نه څوک دي معذورګڼلی شي او نه دده لپاره په قدرت کي دده دپاتي کيدو کوم قانوني جواز پيداکولي شي او دا خويوعام تعامل او اصل دي چي مرستيال کولي شي قانوناً پداسي حالاتو او مواردو کي کاروکړي په تيره په اوس وخت کي خو دحل لپاره داپواځيني لاره ګڼلي شي ، ځکه خو له رباني صاحب نه زموږ داتوقع او هيله ده چي دی دي کار ته غاړه کيږدي او واګي خپل مرستيال محمدي صاحب ته وسپاري .

پوښتنه : دمجاهدينو نورومشرانو لدي پريکړي سره توافق شودلي که څنګه ؟

ځواب : پدي رابطه محترم مولوي خالص کتباً موږ ته خپل توافق څرګند کړيدي او زه فکر کوم استاد سياف به هم ورسره موافقه وکړي ، له حضرت صاحب ، ګيلاني صاحب اود محمدي صاحب له معاون سره چي موږ پدي رابطه وليدل هغوي هم لدي سره توافق څرګند کړ او زياته يي کړه چي داهل الحل والعقد شوا دتزکيي او نيمګړتياوو درفع کولو او دشورا دتکميل په لارو چارو بايد غور او اقدام وشي که څه هم مجددي اوګيلاني پدي رابطه يوه ملاحظه وړاندي کړه چي رباني صاحب دي قدرت لومړي قيادي شورا ته وسپاري بيادي قيادي شورا قدرت محمد-نبي صاحب يا بل چاته وسپاري او يايي به يي هم له ځان سره وساتي خو علماوو ويل کله چي درباني صاحب دتمديد فيصله کيده هغه وخت مشرانو داهم فيصله کړه چي ددريم ځل لپاره به دقيادي شورا هيڅ مفهوم نه وي دا نور هيڅ وجود نلري او دتمديد شوي مودي له پاي ته رسيدو به نور داځاي داهل الحل والعقد شورا نيسي ، دوهمه داچي علماي کرامو ، قوماندانانو اومخوروپه ګډه يوه شرعي فتوي صادره کړي چي قيادي شورا دمشترکي رهبري معنالري او داپه اسلام کي حقيقت او جواز نلري– مشترکه رهبري باطله ده له همدي ځايه ده چي دا شپږ مياشتي چي مشترکه رهبري راغلي ده مسلمانان يي لداسي مشکلاتو سره مخامخ کړي او داسي بربادي او جنګ او جګړي يي رامنځته کړي دي او حکومتي دستګاهمداسي فلج پاتي ده ،په روغتيايي تعليمي او دژوند په ټولو چاروکي خلك له سختو مشکلاتو سره لاس اوګريوان دي داځکه چي دلته يوه سمه اسلامي رهبري نده موجوده او يوه مشترکه رهبري چي هغه په اسلامي نظام کي منع ده هغه موجوده ده ، نو علماي کرامو دا فيصله صادره کړي چي قيادي شورا کوم قانوني او شرعي جواز او رسميت نلري ځکه خويي پريکړه هم کوم اعتبار نلري بله داچي دايوه قانوني او شرعي طريقه ده چي کله امير ناروغ يا مړ شي نو نائب او معاون دبل امير تر ټاکني پوري حق لري چي هيواد اداره کړي .

الحاج مولوي جلال الدين حقاني په انترکانتیننتال هوټل کې داهل الحل والعقدشوراغړوته په ویناکی : ۱۳۷۱/۹/۲۶

داهل الحل والعقد شورا باید داهلیت دمعیار په اساس تزکیه او دجهادی اړخونو دتوافق او برخی اخیستلو له مخی تکمیل شی

الحاج مولوي جلال الدين حقاني په هيواد كي په مسالمت اميزه او شرعي توګه دقدرت دانتقال دپروسي دعملي کولو لپاره دخپلو خيرغوښتونکو فعاليتونو په لړ کي دروان کال دقوس مياشتي په ۲٦ مه نيټه په انترکانينتتال هوټل کي داهل الحل والعقد شورا غړو ته يوه عالمانه وينا وکړه او هغوي يي خپلو درندو مسوليتونو او دهيواد مشر دټاکني په رابطه ددغه شورا دبشپړتيا ضرورتونو او دشورا دتدوير په اړه يوه اتفاقي او منل شوي اصل ته متوجه کړل چي دعجلي په ځاي له دقت او غور څخه کار واخيستل شي تر څو وکولي شي په منل شوي او شرعي طريقه دټولو په اتفاق دهيواد مشر انتخاب شي * اداره

بسم الله الرحمن الرحيم

الحمدلاهله والصلوة على اهلها

اما بعد

عزتمندو ورونو!

دخداوندمتعال (ج) داسي سنت او عـادت دي چي پـه دنـيـا کـي دانسانانو دیوي ډلي او طايفي چي هغه مسلمانان او دالله تعالي (ج) دوسـتـان او دبلـي ډلـي او طايفي چي هغه کافران او دالله تعالي دښمنان دي ددوي په منځ کي تکر راولي پدي کي دالـلـه تعالي (ج) ډيرجهتونه اوحکمتونه پراته دي.

يو داچي کله مسلمانان دخپل سپيڅلي دين پيروي او اطاعت پريږدي دپيغمبر (ص) لـه نقش قدم نه دشيطان په لا روان شي ، بدعيات او منهيات قبول کړي نو الله تعالي(ج) پدوي عذاب راولي . کله چي دوي دهغو فساقو عادات قبـول کـړي نـو پـه دوي هـمـدغـه فساق او کفارمسلط کړي ، بيا همدغه کفار او فساق ددوي ژوند ، مال عزت اوهرڅه پايمال کړي په افغانستان کي همدا حالت و،

مرتدين او زنديقان پيداشوي وو ، علماء تحقير كيدل، ډيرور توهين كيدل ، لمونځونه ترك شوي وو له كفارو سره په دوستي او كفري عادتونو فخركيده .
ځرنگه چې موږ دالله تعالي(ج) طريقه پرې ايښې وه او دباطلو مسلكونو عادات او خويونه مو قبول كړي وو ځكه خو هغوي پر موږ مسلط شول او مال ، ژوند عزت او هر څه يي تر پښو لاندې كړل .
ددغه تكر دحكمت يو اړخ دادي چې د حق يوډله را واخلي او دظلم او كفر سيطره پرې له منځه يوسي .
دافغان مجاهدينو بې وسلي اوتش لاسي ډلې دالله تعالي (ج) هغه دښمن چې ډير مجهز او ديوې سترې امپراطورۍ بنه يې درلوده هغه يې دړې وړې كړه ، دروس قوت ختم شو ، منځنۍ اسيا ،شرقي اروپا او ټوله نړۍ يي ددوي له تسلط څخه ازاده كړه .
پدغه مقدس جهاد او سترو قربانيو چې شوروي اتحاد مات او رنگ شو ټوله نړۍ پرې اعتراف كوي ، خپله روسان هم پدې اعتراف كوي له دغو تش لاسو او بې وسيلو افغانانو الله تعالي (ج) يو داسې قوت او طاقت جوړ كړ چې دكفراو كمونيزم ټول زور طاقت او موجوديت يې پرې ختم او زايل كړاو همدغه جهاد او قرباني وې چې افغانان يې په ټوله نړۍ كې سرلوړي او دعزت او عظمت خاوندان وگرځول .
په قرانكريم كې راځي :(كه چيرې مسلمان او كافر سره ټكرنشي ،ځمكه به فاسده شي ، دخداي(ج) عبادت به ورك شي او قيامت به متحقق شي ؛ قيامت هغه وخت متحقق كيږي چې په ځمكه دالله تعالي(ج) بندگي او عبادت ختم شي).
عزتمنلو ورونو !دغريبو افغانانو او روسانودټكر حكمت داوچې دكفارو ټغر ټول او شريې دفع شو .
الله تعالي(ج) فرمايي : كله چې ستاسې دمكلفيت په وخت كې يوه ډله له دين نه ووتله الله تعالي(ج) وعده كوي چې ددې ملحدينو په مقابل كې به يو مجاهد قوم پيداكړم ، داسې قوم چې الله تعالي (ج) به ورسره محبت لري او دوي به دالله تعالي(ج) ددين دساتلو لپاره دسر او مال قرباني ته چمتووي كه دهجرت سختي وي او كه دجهاد قرباني دوي به ورته اماده او چمتووي اود الله تعالي ددين ساتنه به كوي ، افغانان د الله تعالي(ج) دهمدغه فرمودي مصداق دي .
قدرمنو ورونو ! دمجاهدينو صفت او خصوصيت دادي چې دمسلمان په مقابل كې به خاكسار او متواضع وي او ځان به ددوي له عزت او ناموس نه قربانوي .
اوس چې موږ گوروټول دځوارلس كلن جهاد مدعيان دي ، خو هغه چې دمسلمان په مخ كي تواضع نكوي او له شدت نه كار اخلي دمسلمان دسر مال او عزت دفاع نكوي په جنت كي ددغسې مجاهدينو برخه نشته ، كه څه هم دوي دكفر په مقابل كي جنگ كړيوي.
كوم مسلمان چې ددغه مبارك آيت مصداق ځان گرځوي هغه به دمسلمان په مقابل كي متواضع اوله سر، مال او ناموس نه به يې دفاع كوي او شدت اوتيري به نكوي ، هغه به يواځې دكافرانو

په مقابل کي سخت گير وي .
همدا به دالله تعالي(ج) په لار کي جهاد کوي دحق په اظهار او تطبيق کي به دهيڅاله قوت او ملامتي څخه نه ډارېږي ، دخداي (ج) قانون او حکم ته به گوري او دهغي له مخي به عمل کوي .

عزتمندو ورونو !

له دغه مقدس جهاد اودغوسترو او بي مثاله قربانيو او دربدريو څخه موږ دري هدفونه او مقاصد لرل .

۱- داچي کفار له خپل وطن نه وشړو ، روسي کفري استعمار له هيواده ختم کړو- دالله تعالي(ج) فضل او کرم ؤ داوشول .

۲- دروسانو گوډاگي او ملحد رژيم چي دروسي استعمار پاتي شوني رژيم او دروسانو دتيري دوام ؤ دهغي ړنگول او له منځه وړل -هغه هم وشو .

۳- په هيواد کي ديوه اسلامي حکومت جوړول چي دالله تعالي(ج) قانون نافذ او حکم يي تطبيق کړي ، دمظلوم لاس نيوي وشي اوله ظالم نه يي حق واخيستل شي او شرعي حدود نافذ شي .

او ددي لپاره چي دخداي (ج) احکام دخداي پر ځمکه وچلول شي او ددغه قانون په سيوري کي دمسلمانانو دين ، ناموس ژوند او مال وساتلي شي دادیوه اسلامي حکومت په اداره او حراست کي ساتل کيدي شي او چاچي تجاوز کاوه په هغو شرعي حدود نافذ شي ، فاسداو مرتدته جزا ورکړي شي ، زاړه مرتدين بايد توبه گارشي ، او علني توبه وباسي او ددغه توبي ايستلو ثبوت يي بايد وړاندي شي .

دروان کال دثور له يولسمي نيټي نه چي ملحد رژيم ړنگ شوي دقوس تر ۲۶ نيټي پوري پدغه موده کي دعلماوو په اجماع او فتوي او دقوماندانانو او مخورو په اتفاق داخبره کوم چي پدي موده کي دوه نيم سوه لکه مسلمانان له يوه اسلامي امارت نه محروم دي او دجاهليت په ژوند کي پاتي دي .

دحدودو نفاذ ته دامير شتوالي شرط دي دامام صاحب په مذهب دجمعي دلمانځه دوجوب لپاره شرعي امام شرط دي .

عزتمندو ورونو ! په اسلام کي شرعي امير په دري طريقو دريږي .

۱- چي په متفق عليه توگه يو امير موجود وي ، دي دمرگ په وخت کي اهل سري راولي او امير يي وټاکي لکه چي ابوبکر صديق(رض) حضرت عمر (رض) خليفه وټاکه .

۲- چي مسلمانان راټول شي اهل الحل والعقد او دادري ډلي خلك دي : خداي پرست علماء ، خداي پرست قوماندانان چي له کفارو سره جنگيږي او په خپلو وينو له مسلمانانو دفاع کوي له همدي امله دوي ددور انديشي خاوندان دي او دامور عواقب سنجولي شي ،دقبيلي او قوم متدين سپين ږيري او مخور چي له کفارو سره په رابطه متهم نه وي او خپلوان يي كه کافروي دي ورسره په علاقه تورن نه وي دوي که سل وي او که زر وي خو چي په اتفاق څوك امير تعين کړي هغه څوك چي دامارت صفات پکي موجود وي هغه دمسلمانانو امير دي .

۳- داچي يو مسلمان متدين مشر دلښکر او غلبي له مخي په يوه هيواد کي تامه سيطره راولي داسي چي حدود نافذ او دمظلوم حق له ظالمه واخيستل شي دخپل

ملك حدود له كفارو او تيري كوونكو څخه وساتلي شي كه هغه په تغلب سره دمسلمانانو امير وګرځيد اومسلمانانوورسره بيعت وكړ دى دمسلمانانو مشراو اميردى .

زموږ په هيواد كي پدغو دريو طريقو امير ندي ټاكل شوى كه شوي وي تاسي ووايي (ټولو وويل نه دى شوى) دامير دتغلب خوداحال دي چي حتي په كابل يي هم سلطه نشته ، دكابل هم ځيني برخي حزب وحدت نيولي ، ځيني ګلم جمو نيولي نوري حكمتيار نيولي او په يوه لږه برخه موجوده واكمن تسلط لري .

تردي چي يوه قوماندان دفرقي تشكيل، امكانات اوبودجه غوښته خوچي داغوښتنه يي لږ ځنډيده دبرق پايه يي په راكټ وويشتله ، حكومت ورته دعذر لپاره څوك وليږل چي پايه ترميم كړي خو هغه ورته ويلي وُ چي لومړي دفرقي بودجه او مصارف راوړي بيابه برق جوړكړي .....

محترمووررونو !

پيغمبر (ص) چي له دنيا سفر وكړ دتكفين او جنازي مسايل يي ځنډول شول لومړي يي امير وټاكه بيا داكار اجراشو په اسلام كي دي ته دومره پاملرنه او اهتمام شويدي .

پدي بايد اعتراف وكړو چي له موږ سره داكفايت نه وو موجود چي لـه دي مشـرانـو او قوماندانانو مويوتن مشر ټاكلي وابي . كه موږ واحدزعامت لرلي بيا به مو په وزارتونو كي ټانكونه نه درول او په جادو او چوكو نو كي به مو مورچي او سنګرونه نه جوړول .

ددي ټولو غلطيو نسبت مجاهدينو او جهادته كيږي ، هغه مجاهدينو چي داخلك يي دروس له قبضي نه خلاص كړل خو چي اسلامي امارت ندي راغلي او اسلامي شريعت ندي نافذ شوي ، نظم او اطاعت هم نشته داټوله دمشرانو بي كفايتي ده ، او دا چي زموږ جامعه بي اميره ده او داقتل اوقتال چي روان دي داچي دچا مال سر او عزت ندي خوندي ددي ټولو مسووليت ددوي په غاړه دي .

موږ دي ته اميد واراو ستركي په لار وو چي اهل الحل والعقد شورا به جوړيږي يو امير به وټاكل شي او دهغه اطاعت به متحقق شي، مركزي حكومت به جوړشي او دابيلابيل حكومتونه به ختم شي او افغانستان به يو افغانستان شي .

خودي كار ته ډير اهتمام ،غور او دقت په كار دي پدي كي تعجيل او داكار سطحي ګڼل سمه خبره نده .

په دي باره كي بايد ټول اختلافات حل شي ټول متفق اومتحد شي داوروستي او ډير طلاي چانس دي دابايد له لاسه ورنكړو، ددي لپاره چي اعتراضونه او ملاحظات رفع شي او شورا په واقعي توګه تكميل شي بايد دتزكيي يو هيئت وټاكل شي داهيئت به له كمسيون سره ګډ دشورا غړي له شماره تير كړي چي كه غير مستحق كسان پكي وي هغه ورڅخه وايستلي شي ،كه دحزبيت ،قوميت او يارشوت له مخي څه نيمګړتيا پكي وي كه هغه سهواً وي كه عمداً هغه به رفع شي ، همدارنګه هغه چا چي داشورا تحريم كړي او مرور دي هغه به هم په شورا كي برخي اخيستلو ته قانع شي .

دامهمه او ضروري ده چي

رهبران پکي برخه واخلي تر
اوسه يواځي استاد سياف او
استاد رباني ورسره توافق
ښودلي نورو انکار کړي، زه دلته
دګرم اوناګرم خبره نه کوم بلکي
دمشکل خبره کوم چي که داسي
ونشي اصلي مشکل به بيا هم نه
وي حل شوي.ددي خبري حل
دادي چي شورا تزکيه او تکميل
شي او مرورهم پخلا شي دازموږ
وطن دي موږ به پدي وطن کي
يواسلامي حکومت او امارت
جوړوُ، پدي لار کي به موجوده
موانع او ضرورنه د فع کوو ،
دابايد ليډرانو او حزبونو ته
پرينږدو ، پدي کي موږ هم مسئول
يو.دا اوه مياشتي ليډرانو څه
وکړل ، موږ بايد دامسئله لکه چي
حقيقتاً خپله مو ده همداسي
خپله وګڼو ،دا په موږ فرض ده
چي اهل ودروو او دهغه اطاعت
وکړو . هغو ليډرانو چي شورايي
تحريم کړي هغوي ته به ورځو ،
شورا ته به يي راولو،قانع کوو به
يي چي داشورا يوه واقعي شورا
وګرځي ، که دوي پدي کي برخه
وانه خلي که نور څه نه وي راکړ
او توپونه خو ويشتلي شي؛ برق
خو قطع کولي شي له همدي
ځايه ده چي دا مشران بايد په
شورا کي برخي اخيستلو ته
قانع کړو ددوي تر قانع کيدو او
همدارنګه دشورا له تزکيي
اوتکميل مخکي بايد دشورا په
تدوير تعجيل ونشي .

مخکي هم چي څه بدبختي رامنځ
ته شوي وي دالدي امله چي هلته
په ابتدا کي هم همداسي تعجيل
شوي و او داسي يو فورمول
جوړ شوي وُ چي دموجوده
مشکلاتو ددوام باعث دي د دوو
مياشتو او څلورو مياشتو
فورمول همداسي يو ناقص
فورمول وو.

دقيادي شورا په يوه غونډه کي
زه هم ناست وم هلته دوي
دافيصله وکړه چي ددوو او څلورو
مياشتو رئيس ديوه سمبول شکل
لري مهم مسايل به قيادي شورا
حل او فصل کوي ، دتصميم
نيولو مهمترينه مرجع قيادي
شورا ده ، لدي پرته نه کوم قرار-
داد لاسليک کيدي شي او نه
دسولي او جنګ تصميم نيولي
شي ، خو څرنګه چي قيادي
شورا دمشترك قيادت بڼه لري او
دا دعلماوو دفتوي له مخي باطل
دي له بلي خوا تر اوسه ددغي
شورا اتفاقي غونډي او فيصلي
نه داچي متحققي نشوي بلکي
قناعت بخښونکي نه وي او
دمشکلاتو دحل په ځاي يي نور
مشکلات هم رامنځته کړل .

غزتمندو ورونو ! بيا په تاکيد سره
وايم چي مشران بايد قانع شي
قيادي شورا نوره منحل ده داهل
الحل والعقد شورا بايد تکميل او
تزکيه شي که دلوي جرګي معنا
داوي چي ښه او اهل خلك پکي
راغونډشي هغسي جرګه دادي
جوړيږي هغه علماء قوماندانان
چي ددغه نيك کار لپاره راټول
شوي دابايد سطحي او وړوکي
ونه ګڼي ، پدي رابطه بي تفاوته
ونه اوسي او پردي يي ونه ګڼي
بلکي دابايد داسلام او ټول ملت
کار وګڼي په همدي سره دا جګړي
او ويني تويدل بنديدلي شي فسق
او فساد له منځه تللي شي ، پدي
لار کي بايد موږ هرډول تکليف ته
اوږه ورکړو ، قوميت حزبيت او
پيسه پرستي ونکړو بلکي ديوي
واقعي شورا دجوړيدو او په
شرعي توګه دمسلمانانو دمشر
دټاکني لپاره يواځي داهليت
معيار په پام کي ونيسو وبس
(وما علينا الاالبلاغ)

پە کابل هوټل کي داهل الحل والعقد شورا غړوته دالحاج مولوي جلال الدين حقاني وينا :۷۱/۹/۲۷

موږ بايد دالله تعالي (ج) بندګان شو، دبنده ، څوکي او پيسو بندګان نشو دقوم -حزب اوليډر په خاطرځانونه او ملت له هلاکت سره مخامخ نکړو :

اعوذبالله من الشيطن الرجيم
بسم الله الرحن الرحيم
الحمد لاهله والصلوة علي اهلها
امابعد :

عزتمندو مسلمانانو ورونو! څرنګه چي وخت کم دي زه يو څو مختصري خبري تاسي ته عرض کوم پە افغانستان کي دخداوند تعالي پە امر باندي دحضرت رسول کريم (ص) پە ارشاد او نقش قدم باندي هجرت اوجهاد شوي او درزياتو مسلمانانو شهادت راغلي دي او کفر او روسيي کمونيزم تە شکست ورکړي شويدي .

افغانانان تقريباً دوه دونيم سوه لکه مسلمانان دي داشپړاووه مياشتي چي دکفر نظام رنګ شوي دوي ديوه شرعي امير دوجود نه بي برخي دي هغه مبرم او ضروري امر پە اسلام کي چي امامت کبرئ ورته وايي او هغه چي حضرت رسول کريم (ص) دمسلمانانو امير او خليفه ؤ کله چي هغه مبارک وفات شو نوتر هغه پوري چي دحضرت رسول کريم (ص) پە ځاي باندي دمسلمانانو داموررو مدبر او امير پە شريعت سره ونه ټاکل شو دپيغمبر (ص) جنازه ىتدفين او شام تە دمسلمانانو دلښکر روانيدل چي بيرغ يي پيغمبر (ص) پخپلو مبارکو لاسونو تړلي

ۀ تر هغه پوري معطله ۀ ، هلته مسلمانان راجمع شول دابوبکر صديق (رض) په لاس باندي يي بيعت وکړ او يو امير يي غوره کړ.

له دي وروسته دهغه لښکر د روانيدو او دپيغمبر (ص) په تدفين اقدام وشو .

عزتمندو ورونو ! موږ تاسي پدي پوخ باوراو اقرار لرو چي ددغي اوو،اتو مياشتو په وخت دا قتل او قتال چي روان دي دا بي امني، لوټ تلان ،په خلکو دلارو تړل ، داددي لپاره چي يو شرعي حکومت منځ ته ندي راغلي ، دحدودو دتنفيذ لپاره دشرعي امير موجوديت شرط دي امام ابوحنيفه" دجمعي دلمانځه لپاره دامير يا دهغه دنايب شتوالي شرط — ګر ځولي دي .

ورونو! لکه مخکي مو چي وويل دحدودود تنفيذ لپاره دشرعي امير موجوديت شرط دي دلته چي دا غلاوي کيږي فحشاکيږي ، قتلونه کيږي ددي لپاره به حدود څه ډول اجراکيږي اوس دلته هغه زنديقان موجوددي چي سب درسول (ص) يي کړي ، قران کريم يي سوځولي وطن يي خرخ

> که موږ واقعاً او په ريښتيا سره لکه چي کفر سره مو مقابله کوله او خداي پاک ته مو ځانونه تسليم کړي وو الله تعالي (ج) موږ اوتاسي ته کاميابي را په برخه کړه اوس هم که موږ او تاسي ددغه ملت په مخ کي ځانونه الله تعالي (ج) ته په ريښتيا تسليم کړو او دقوم حزب او ليډر خاطر او کټه له پامه وغورځوو او يواځي الله تعالي (ج) ته ځانونه تسليم کړو داکار به په ښه توګه تـــرســـره شـــي

کړي مسلمانان يي شهيدان او قتل عام کړيدي اوس هم دهغوي دتوبي ثبوت علناً نشته .

ددغو ټولو ګډوډيو او مشکلاتو مسؤليت پدغه اسلامي جامعه کي اول دعلماوو په غاړه دي ځکه ددين وارثان علماء دي .

دوهمه درجه هغه خلک مسؤل دي چي ځوارلس کاله مخکي چي هيڅ امکانات يي په لاس کي نه لرل دکمونستانو او روسي يرغلګرو په مقابل کي يي جهاد پيل کړ هغه وخت چي لاس يي تش و او دجنګ هيڅ توازن نه ؤ دعقل له لاري داهيڅ دمنلو وړنه وه چي داخلک به ددغه کافرانو په مقابل کي کامياب شي او وطن به ازاد کړي دادعقل له مخي نه منونکي خبره وه خو دخداي (ج) په ملګرتيا او نصرت اودجهاد په برکت باندي هغه کافران له منځه ولاړل نو کومو قوماندانانو او مجاهدينو چي هلته ځان مسؤل ګرځولي او هلته يي دځان ږني توي کړي، په خداي (ج) باندي يي ځان خرڅ کړيدي او دالله تعالي نه يي دخداي (ج) رضا اخيستي ده او ددي ملت د بقا او عزت لپاره يي ځان زغره ګرځولي دوهمه درجه دوي مسؤل دي او پدي ګناه چي دوه نيم سوه لکه خلک بي له شرعي امير او اسلامي اداري نه ګوزاره کوي او لدوي دغلا چورچپاول اوبي امني مخنيوي چي په اسلامي امارت باندي کيږي ددي دنشتوالي دوهمه درجه مسؤل داقوماندانان او مجاهدين دي دريمه درجه هغه متدين سپين ږيري او مخور دي چي هغوي په کور کلي او

قبیله کي جهاد ته خلك سوق کړیدي هجرت ته یي سوق کړي دکفر دملګري او سلطي نه یي راګرځولي او ژغورلي دي له کفر سره یي له سازش او مصالحي منع کړي او په اسلام کي یي خپل کور او کلي ساتلي او دکلي او ولس مشردي دریمه درجه ددي ګناه مسئولیت ددغو مشرانو په غاړه پروت د ي اوس له اوو میاشتو تکلیفونو او بدبختیو وروسته اودداخلي جګړو او وینوتویولووروسته پدي توانیدلي یو چي داشورا را وغواړو.

داشورا چي موږ څومره خبریو تکمیل شوي نده موږ باید پدي پو شو چي دپنځلس لکو شهیدانو دوینو په قیمت او دډیرو بربادیو او مصیبتونو له تحمل وروسته موخه لاس ته راوړیدي او ولس ته مو څه ورکړي دي بیا هم جنګونه دي ، اختلافات دي او مرګونه دي، په مسلمانانو کي دومره کفایت نشته چي یو امیر تعین کړي داګنا به ددغو دریو طبقو خلکو په غاړه وي چي دلته یي نمایندګان موجود دي، علما پکي شته، متدین سپین ږیري هم پکي شته قوماندانان هم پکي شته .

لنډه داچي که چیري موږ واقعاً او په ریښتیا سره لکه چي له کفر سره مو مقابله کوله او خداي پاك ته مو ځانونه تسلیم کړي وو الله تعالي موږ او تاسي ته کامیابي را په برخه کړه اوس هم که موږ او تاسي ددغه ملت په مخ کي ځانونه الله تعالي ته په ریښتیا تسلیم کړو او دقوم حزب او لیډر خاطر او ګټه له پامه وغورځوو او یواځي الله تعالي ته ځانونه تسلیم کړو داکار به په ښه توګه تر سره شي.دخداي (ج) لار او دپیغمبر (ص) طریقه په اسلام کي په هرعمل کي څوارلس سوه کاله مخکي تکمیل شویده .

دا بالکل کامله ده هیڅ خفي نده زموږ او ستاسي دامیر ټاکنه دهغي اطاعت او دهغي لاندي دحدودو تنفیذ داسلامي شریعت عملي کول او دقران کریم حاکمیت اودکمونستانو شړل او دمجرمینو مجازات کول ، دمظلوم دحقوقو دفاع، دظالم مخنیوي دامن راوستل ددي حکم واضح دي صرف داچي موږ دخداي بندګان شو دبنده بندګان نشو ، دچوکي بندګان نشو دپیسو بندګان نشو موږ باید حزب قوم او ځوکي معبود ونه نیسو که پدي پسي روان شو دا اته میاشتني دربدري به راڅخه هیره شي او لدي نه له سترو دربدریو سره به مخامخ شو. موږ باید دتیرو ګناهونو له الله تعالي نه عفوه وغواړو اوس خداي پاك موږ او تاسي ته دادرك راکړ چي موږ دواحد او لاشریك خداي (ج)بندګي وکوله هغه ته موځان تسلیم کړ- حکم دامیر دتعین او دهغه د پیروي په اسلام کي پټ ندي واضح دي او په هغه اندازه چي له روس سره مو مقابله کوله ګران او سخت هم ندي په وطن کي امن راوستل او دشریعت تنفیذول له جهاد او هجرت نه سخت ندي .

زما مطلب دادي هغه پاتي خلك هم باید راولو، شورا تکمیل کړو واحدلاشریك خداي(ج)ته ځانونه تسلیم کړو دهغه په شریعت باندي موږ او تاسي په اتفاق سره بي دڅه ریا او ددنیا دجاه، موقف او مال دګټي له فکر نه او دچادخوشحالي او خپګان نه پرته په اسلامي طریقه یو امیر وټاکو اوله هغه نه اطاعت وکړو .

واخردعونا ان الحمدلله رب العالمین

الحاج مولوی جلال الدین «حقانی» په مطبوعاتی کنفرانس کی :۷ /۱۰/۱۳۷۱

داقتدار ددوام په خاطر باید داهل الحل والعقد شورا قانونی حیثیت جریحه دارنشی ،ځکه داشورا په هیواد کی دامن ، سولی ،استقرار او شرعی امیر دټاکني یواځینی زریعه او وروستی چانس دی.

پوښتنه : دقدرت دانتقال په رابطه تراوسه نه خو داهل الحل والعقد شورا تکمیل شوي او نه هم ددغه شورا دتدویر په اړه کوم توافق لاس ته راغلي دي ، پداسي حال کي چي ددغه شورا په هکله ملاحظات او اعتراضات پخپل ځاي پاتي دي نو که چیري دواکمنو له خوا په همدغه ناقصه بڼه شورا دائره شي ددغه شورا حقوقي او قانوني حیثیت به څنګه وي ؟

ځواب : لـه کومـي ورځـي چـي مجاهدینو په کابل کي حکومت تسلیم کړي له همغه وخته جنګونه قتل او قتـال روان دي ، خو کله چي داهل الحل والعقد شورا له لاري دیـوه قـانـوي حـکـومـت دجوړولو پروسه پیل شوه خلك ډیر امیدوار شول او پدي انتظار کي وو چي لدي لاري به یومنل شوي قانوني او رسمي اسلامي حکومت او امیر انتخاب شي ، او لدي سره بـه امـن او اسـتـقـرار رامنځ ته شي ، دخلکو حقوق به تأمین شـي ولایات به په مـرکزي حکومت پوري وتړل شي ، خانه- جنګي او دلارو بندول به ختم شي مفسد او مجرم عناصر چي په غیر قانوني توګه په قدرت کي پاتي دي دهغوي لاس به لنډ شي له بلي خوا پـه شورا ډیر زیات مصـرف شوي او دتـولي دنـیـا نـشـراتو ددغه شورا په رابطـه مطـالب او تبـصري خپري کړي دحل او عقد شورا ته مسلمانانو

> دغه شورا په هغه وخت کي قوت او قانونيت پيدا کولي شي چي اوه جهادي مشران چي په موجوده شرايطو کي په هيواد کي نظامي قوت ورسره دي برخه پکي واخلي، داشورا بايد تزکيه شي تکميل شي او داهليت او استحقاق لـه مـخـي نمـايـنـدگـان غـوره کـړي شـي

دامـيـد سـتـرگـي نـيـولـي او دا دمشکلاتو دحل يواځيني لار گڼي ، خو تر اوسه دغي شورا لکه تاسي چي ورته اشاره وکړه دا استعداد او قانونيت ندي پيدا کړي چي پدي وتوانيږي او يو داسي حکومت جوړ کړي چي دجگړو او مخالفتونو مخه ونيسي او موجوده بحران او مشکل حل کړي .

دغه شورا په هغه وخت کي قوت او قانونيت پيدا کولي شي چي اوه جـهـادي مـشـران چـي پـه موجوده شرايطو کي په هيوادکي نظامي قوت ورسره دي برخه پکي واخلي .

داشورا بايد تزکيه شي، تکميل شي او داهليت او استحقاق له مخي نمايندگان غوره کړي شي .

موږ يوه نيمه مياشت مخکي کله چي کمسيون ټاکل کيده استاد رباني ته داپشنهاد وړاندي کړ چي ولاياتو ته په کمسيون کي بايد يو عالم او قومانداان هم وليږل شي چي له کمسيون سره په گډه په رسمي توگه دنمايندگانو دانتخاب څارنه وکړي چي پدي هکله بيا څوك اعتراض ونکړي چي غير مستحق کسان راغلي اوهم دقوميت او حزبيت له مخي نمايندگان ټاکل شوي او يا دپيسو او رشوت څخه کار اخيستل شوي خو متأسفانه استادرباني زموږ دغي غوښتني ته مثبت ځواب ورنکړ .

اوس چي نمايندگان کابل ته راوستل شوي پدي پير اعتراضونه او انتقادونه موجود دي، پنځو تنظيمونو داشورا تحريم کړي نو ددي کشالي دحل لپاره زموږ پشنهاد دادي چي شورا تزکيه شي مستحق کسان چي پاتي دي هغوي بايد راوغوښتل شي کومو ولاياتو لکه ننگرهار ، کونړ او لغمان چي شورا تحريم کړي ددوي قناعت هم بايد حاصل شي، کومو مشرانو چي په شورا کي دبرخي نه اخيستلو اعلان کړي هغوي هم بايد په شورا کي برخه واخلي پدي هکله ددوي روا شکايتونه بايد واوري او رفع يي کړي اوناروايي په قناعت سره ردکړي له بلي خوا واکمن دفشارونو له لاري ځينو اړخونو ته دبيگايه او غير قانوني امتيازاتويه ورکولاړ شوي ، دوستم لدي فشار څخه دگټي اخيستلو کوښښ کوي چي له شمالي ولاياتو دده يو شمير

نمایندگان فوق العاده ومنل شي که نه نودي به له حکمتیار سره یوځاي شي ، دوستم داهم غواړي چي دخپلي ړلي خلك دتنظیمونو په نامه شوراته ولیږي ، داسي خلك چي دهر تنظیم تر عنوان لاندي ځان راولي شرعاً دشورا اهل ندي ، له همدي ځایه ده چي تر اوسه دغي شورا حقوقي او قانوني بڼه او حیثیت ندي پیدا کړي که په همدي ناقص شکل دائره شي نه داچي موجوده مشکلات به حل نکړي بلکي دنورو مشکلاتو د رامنځ ته کیدو باعث به هم وګرځي ، خو زموږ هیله او کوښښ دي چي دتزکیي او دمشرانو دتوافق له مخي داشورا تکمیل او یوه قانوني شورا وګرځي .

پوښتنه :لکه چي هیوادوال خبر دي تاسي پدي یوه نیمه میاشت کي دربړي دیوه جامع حل په اړه له جهادي مشرانو او دولتي واکمنو سره ملاقاتونه کړي او تر کومه چي موږ خبر یو تاسي او اتحاد علماي افغانستان په ګډه دوي ته ځیني پیشنهادونه وړاندي کړي تاسي دخپلو پشنهادونو دمنلو او تطبیق په رابطه څومره مطمین یاست ؟

ځواب : موږ له هغو خواوو سره چي ددغي شورا مخالف او دجنګ په صحنه کي ولاړ دي لکه حکمتیار صاحب څو څو واره لیدلي او داموورته واضح کړي چي داهل الحل والعقد شورا په هیواد کي دامن ، استقرار او یوه اسلامي حکومت د ټینګولو لپاره ورستي هیله او زریعه ده ، باید دوي پدي حالت کي له جګړي لاس ونیسي د اعتراضونو اوملاحظاتو درفع کولو لپاره موږ لګیایو کوښښ کوو چي رواملاحظي او انتقادونه حل او رفع شي ، معضله چي په خبرو حل کیږي باید له جګړي ډډه وشي ځکه دجګړي (۹۰) فیصده تاوان بي دفاع او بیوزلو خلکو او ښاریانو ته رسیږي .

حکمتیار صاحب ته زموږ دوهم پشنهاد داوٌچي که حکومت دشورا په هکله ستاسي ملاحظي رفع کړي او شورا قانوني بڼه غوره کړي تاسي خپل نمایندګان شورا ته ولیږي .

پدي رابطه دده یواعتراض داوٌ چي استاد رباني له ځان سره په غیر قانوني توګه قدرت ساتلي ځکه دده تمدیدشوي موده هم پاي ته رسیدلي موږ وویل دایواځي ستانه بلکي دټولو اعتراض دي استاد رباني باید قدرت خپل مرستیال مولوي محمد نبي محمدي ته وسپاري او شورا به دهغه تر اداري لاندي دائره شي.

دده بل انتقاد داوٌچي په دولت کي کمونست عناصر فعال دي او دوي ته په شورا کي هم برخه ورکولي کیږي موږ بیا ورته واضح کړه چي دادټول ملت اعتراض دي داسي عناصر باید ضرور له صحني څخه لیري کړي شي او که په شورا کي برخه ورکوي داشورا بیا داهل الحل والعقد شورانشي بلل کیدي .

حکمتیار صاحب ته موږ داهم په
ډاګه کړه چي دځپروشويو اوازو
له مخي داسي معلوميږي چي
تاسي له حزب وحدت او دوستم
سره چي ددواړو له خوا ډيري
لوټماري او بيګناه قتلونه شوي او
دخارجيانو په لاس تحريکيږي
ائتلاف يادجوړي خبري کړي ،
که داسي وي داپه ډيرستر پيغور
او شرم وي ځکه تر اوسه تاسي
دا ادعا کوله چي دولت ائتلافي
بنه لري او کمونستان او مليشي
په قدرت کي پاتي دي ځکه خو
ورسره جنګيږم ، که داکار وکړي
نوهغه تير جنګونه به دي هم خلك
حقيقاً داقتدار جنګونه وګڼي
.همدارنګه موږ له حکمتيار سره
دپخواني کمونست رژيم دبقايا-
وو يادونه وکړه خوده وويل چي
هغوي يواځي دمجاهدينو له
عفوي استفاده کړي او نور هيڅ
قدرت نلري ، خو دوستم او نور
جنرالان په قدرت مسلط دي او
لاد امتيازاتو غوښتنه کوي .
همدارنګه موږ دولتي واکمنو ته

داشورا چي دحل اوسولي
لپاره ورووستي چانس
اوفرصت دي بايدغير قانوني
ونه ګرځي او دولس داهيله
خاوري نکړي .
موږ واکمنو ته داپشنهاد هم
کړي ددي لپاره چي دخلکو
اعتراضونه او ملاحظات رفع
او شورا دولس داعتماد وړ
وګرځي دشورا له منځه له
پخواني کمسيون سره کړ يو
هيئت وټاکل شي او پدي اړه
په موجوده شکايتونو غور
وکړي او ترهغه چي دټولو
مشرانو توافق نه وي راغلي
او تصفيه نه وي شوي بايد
دشورا په تدوير کي عجله
ونـــــــــــــــــــــشـــــــــــــــي

داپشنهاد کړي چي قدرت خپل
معاون مولوي محمد نبي صاحب
ته چي قانوني حق لري وسپاري
ځکه درباني صاحب تمديدشوي
موده هم پاي ته رسيدلي او نور

په قدرت کي دهغه پاتي کيدل
قانوني نشي ګڼل کيدي . موږ
داغوښتنه کړي وه چي مولوي
محمد نبي صاحب دي دشورا له
انعقاد نه تر انتهي پوري ددي
څارنه وکړي خو واکمنو تر اوسه
موږ ته مثبت ځواب ندي راکړي .
بايد ووايم چي که شورا درباني
صاحب تر غير قانوني قدرت
لانـــــدي دائـــــريــــــږي دابـــــه
سانسورشوي شکل ولري او دا به
خپله دده له خوا دشورا قانوني
حيثيت جريحه دار کول وي .
موږ دوي ته څو ځله داپشنهاد
کړي چي دشورا دکاميابي لپاره
داضروري ده چي دمولوي محمد
نبي صاحب تر اداري لاندي
شورا تزکيه او تکميل شي ،ځکه
له ولاياتونه هم داشکايتونه
رارسيدلي چي دنمايندګانو په
ټاکنه کي دامانت او اهليت
مرعات ندي سناتل شوي او غير
مستحق کسان معرفي شويدي که
څه هم دوي ظاهراً لدي سره
موافقه کړي خو عملي قدم يي

ندي پورته کړي اوس هم موږ هيله من يو او داغوښتنه کوو چي داشورا چي دحل او سولي لپاره وروستي چانس او فرصت دي غير قانوني ونه ګرځوي او دولس داهيله خاوري نکړي .

موږ واکمنو ته داپشنهاد هم کړي ددي لپاره چي دخلکو اعتراضونه او ملاحظات رفع او شورا دولس داعتماد وړ وګرځي دشورا له منځه له پخواني کمسيون سره ګډ يو هيئت وټاکل شي او پدي اړه په موجودو شکايتونو غور وکړي او تر هغي چي دټولو مشرانو توافق نه وي راغلي او تصفيه نه وي شوي بايد دشورا په تدوير کي عجله ونشي ، خو دوي تر اوسه پدي هکله اطمينان ندي راکړي .

موږ واکمنو ته داهم په ډاګه کړه چي تاسي بايد دحکمتيار له ويري ددوستم ناروا شرطونه ونه مني ، دحکمتيار صاحب دحملي مخنيوي به اتحاد علماي افغانستان او جهادي قوماندانان چي په جنګ کي درګير ندي وکړي او دادنده به واخلي چي حکمتيار به له حملي منع کوي او هغه به جنګ نه کوي او داعتراضونو له رفع کولو وروسته به په شورا کي هم برخه اخلي که بيا حکمتيار قدرت طلبي کوله او دي کارته يي غاړه نه ايښوده دعلماوو په فتوي به ټول دحکمتيار مقابلي او جنګ ته دريږو . پدي هکله يي هم څه رسمي ځواب ندي راکړي خو موږ اميد لرو چي واکمن دچا ناروا شرطونه ونه مني او دشورا دتزکيي او تکميل غوښتنه ومني.

پوښتنه : که دربري دحل په رابطه په خپلو فعاليتونو په لنډه توګه رڼا واچوي ډيره مهرباني به مووي؟

ځواب : ستاسي دي پوښتني ته موږ په مخکنيو ځوابونو کي اشاره وکړه زموږ مقصد دادي چي داهل الحل والعقد شورا چي دامير دانتخاب لپاره شرعي، اساسي او اسلامي طريقه ده او دټولو خوا پدي توافق راغلي وو او داډيرورك او مړه سنت ؤ چي ژوندي شول او ملت هم دي ته سترګي په لار دي چي لدي لاري يو اسلامي حکومت انتخاب شي ځکه خو دواقعي شورا دجوړيدو لپاره چي ديوه اسلامي حکومت دټاکني صلاحيت او استعداد ولري داپه کارده چي له تعجيل څخه ډډه وشي، شورا تزکيه ،اصلاح او تکميل شي دا څه نيمګړتياوي چي لري رفع شي هغه څوك چي له شورا دباندي پاتي شوي بايد په شورا کي په ګډون قانع کړي شي که شوا تکميل اصلاح او تزکيه شي او دخلکو اعتراضونه اوشکايات رفع او دولس اعتماد حاصل کړي بيا چي هر څوك دامير په توګه وټاکي دهغه به بشپړ اطاعت کيږي بيا هيچا ته دمخالفت جواز نه پاتي کيږي .

(واخردعوانا ان الحمدلله رب العالمين)

داهل حل اوعقد شورا دشرعي اواصولي تدوير په اړه داتحاد علماي افغانستان جهادي قوماندانانو او مخورو دپشنهادونو، پریکړو اوفعالیتونو مفصل او مستند رپوټ :

په کابل کې داهل حل اوعقد شورا دتدوير او دهيواد دمشرتاکلو دپروسې لړزوونکی انکشافات

دحل او عقد شورا دتزکيي ، تکميل او توافق پر ضرورت ټينگار ولي بې نتيجې پاتي شو ؟

ننگيال

په هيواد کي دثبات او يوه قوي مرکزي حکومت نشتوالي او دتيرو اتو مياشتو جګړو او دائتلافي واکمني له سياستونو څخه راپيدا شويو ستونزو او بحران له مخي په منل شوي او شرعي طريقه دقدرت دانتقال پروسه يو داسي چلنج ؤ چي که په معقوله او مناسبه طريقه داپروسه دعمل په ډګرکي پلي نه شي زموږ مظلوم ولس به له نورو بدبختيو او مصيبتونو سره مخامخ کړي ،په وروستيو دوومياشتو کي اصلي او اساسي خبره داوه چي داهل الحل والعقد شورا ته چي ددغي معضلي او بحران دحل وروستي چانس او مناسب فرصت وُپه شرعي طريقه يواځي داهليت دمعيارله مخي نماينده گان غوره کړي شي او يوه اتفاقي شورا جوړه او هغه داينده زعيم دټاکلو له درانده مسووليت څخه ووتلي شي ، داسي چي دشورا دحقوقي او قانوني کار کردګۍ له مخي به بيا دهغي په پريکړو دهيچا لپاره داعتراض او له هغي څخه دسرغړوني جواز نه وي پاتي .

ددي کار لپاره دمصلحينو فعاليتونو او خير غوښتونکو هلو ځلو ته ځکه ضرورت ؤ چي له يوي خوا دولت دخپل ائتلافي جوړښت له مخي دمخالفينو له دښمني اوجګړو له تهديد سره مخامخ ؤ او دتفاهم او خبرو په ځاي ددوي په منځ کي توپونو او راکټونو خبري کولي او له بلي خوا دولت له نويو مخالفتونو سره دمخامخ کيدو په مسير کي دلا کمزوري خواته روان ؤ .

له همدي ځايه وه ددي لپاره چي داهل الحل والعقد

شورا وتوانيږي په شرعي طريقه جوړه او قانوني حيثيت يي جريحه دار نشي الحاج مولوي جلال الدين حقاني داتحاد علماي افغانستان ، جهادي قوماندانانو او قومي مخورو دتفاهم او ګډو کوښښونو له مخي پدي رابطه داسي هلي ځلي پيل کړي چي شورا ته دنمايندګانو دانتخاب جريان په داسي شکل ترسره شي چي دتقلب او جعل څخه خوندي او حزبي، قومي، سمتي او ژبنيي ملحوظات په پام کي ونه نيول شي اودا نمايندګان داړول انتخاب شي چي سبا پري څوك ددولت او حکومت دلاسوهني او ددولتي امکاناتو اوزرايعو څخه داستفادي انتقاد او تور ونه لګولي شي .

لدي مخکي هم يوه يوه نيمه مياشت اتحاد علماي افغانستان ، جهادي قوماندانانو او قومي مخورو دخپلو پشنهادونو او طرحو له مخي دولتي واکمنو ته له موجوده بحران څخه دوتلو وړانديزونه کړي وو ، دلاري په خلاصولو ، دحزب اسلامي دحملي دمخنيوي او دمولوي نصرالله منصور خلاصون او دداسي نورو معضلو حل کول ددوي دکوښښونو او هلو ځلو نتيجه وه.دوي دخپلو اتفاقي پريکړو دحکومت په شرعي حيثيت دسختي ګوتنيوني او انتقاد سره سره چي دڅو رسمي پشنهادونو له لاري يي دولتي واکمنو ته هم وړاندي کړي وو دجګړي دمخنيوي او دسولي دتحکيم په لارکي فعاليت کاوه او ددولت له مخالفينو څخه يي غوښتنه کړي وه چي

له جګړي لاس واخلي او دخبرو او تفاهم له لاري دربړي دحل له هڅوسره همکاري وکړي چي موږ په تفصيل سره په تيره ګنه کي دهغوپه هکله مفصل رپوټ او معلومات خپاره کړي دي .

اتحاد علماي افغانستان، جهادي قوماندانان او قومي مخورو دوي اساسي او بنسټيزه غوښتني لرلي داسي غوښتني چي دعملي کيدو او منل کيدو په صورت کي ټولي ستونزي ، اختلافات ،جګړي او په مجموع کي موجوده بحران پري حل کيده هغه دوي غوښتني دشرعي اصولو په رڼا کي په شرعي طريقه داسلامي امير او مشرټاکل او داسلامي احکامو په تطبيق دټاکل شوي مشر تعهد او عمل .

پدي معنا چي :په شرعي طريقه داسلامي امير ټاکل فرض دي پدي کي تاخير ګناه ده او دا امير به دحقوق الله او حقوق العبد ساتنه کوي او داسلامي احکامو به بشپړ تطبيق به ټاکل شوي امير تعهد کوي او هغه به عملي کوي .

ددي لپاره داهل الحل والعقد شورا جوړيدل يواځيني لاره وه چي بايد غوړي يي په اسلامي طريقه داهليت له مخي انتخاب او راغونډشوي واي او څرنګه چي داهل الحل والعقد شورا دنمايندګانود انتخاب لپاره ددولتي واکمنو له خوا کمسيون ټاکل شوي ؤ او پدي رابطه دنورو اړخونو انتقاد داؤ چي دولت له خپلو وسيلو او امکاناتو څخه دنمايندګانو په انتخاب کي ګټه اخلي ځکه خو په کاروه چي له مصلحينو او بيطرفه شخصيتونو څخه چي تر اوسه يي په موجوده موضعګيريو کي ونډه نده اخيستي هم دنمايندګانو دانتخاب له جريان څخه څارنه وکړي چي چاته دانتقاد او مخالفت ځاي پاتي نشي او نمايندګان په سمه طريقه غوره کړي شي له همدي ځايه وه چي دعقرب په (١٠) نيټه دعلماوو ، قوماندانانو او مخورو يو هيئت دمحترم حقاني صاحب په مشري له استاد رباني سره ملاقات وکړ

حقاني صاحب پدي رابطه د کمسیون په جوړښت او دحکومت دپریکړي په اړه دخپلي ملاحظي نقطه نظر څرګند کړ، ویې ویل:

دولایاتو په اوضاع او اجتماعي سیستم له دولتي واکمنو داطراف علماءاو قوماندانان ښه پوهیږي ، په کومه طریقه چي کمسیون لایحه جوړه کړی ، پدي طریقه دکامیابي صورت زموږ په نظر کي داسي معلومیږي چي امکانات یي لیږلږ دي ، داپداسي طریقه تر میم او جوړیدي شي چي دکمسیون له هیئت سره دهر ولایت یو یو قوماندان او عالم هم برخه واخلي په لایحه غور وکړي او حقیقتاً اهل الحل والعقد انتخاب شي ، که داسي ونشي دموجوده لایحي او طرزالعمل له مخي ضرورجنجالونه او نورکړکیچونه راپیدا کیږي .

خو استاد رباني موقف واضح او قانع کوونکي نه وُ ده وویل : چي له ورونو سره به مشوره وکړم چي که امکان ولري له هر ولایت څخه یویو عالم او قوماندان له دوی سره همکاري وکړي ، خوحقاني صاحب په ډاګه کړه چي علماء او قوماندانان نه غواړي په دغه هیئتونو کي طفیلي ولاړ شي باید ددوی ګډون رسمي ښه ولري اوپه رسمي توګه حق ورکړي شي .

خو له بده بخته چي دولتي واکمنو داپشنهاد ونه مانه او دهماغه لایحي او کمسیون په واسطه یي نمایندګان انتخاب کړل لدي سره لکه څنګه چي ویره موجوده وه اوحقاني صاحب دهغه اټکل کاوه دجهادي ګوندونو سخت اعتراضونه او مخالفتونه پورته شول تردي چي پنځو جهادي ګوندونو له شورا سره تحریم اعلان کړ او پدي هکله یي ددولت طرحه ناقصه او دنمایندګانو په ټاکنه کي یي واکمن په جعل ، تقلب او رشوت ورکولو تورن کړل .

دعقرب په څلورویشتمه نیټه په موجوده شکل دشورا مخالفو جهادي ځواکونو غونډه لرله ، داستاد رباني دریاست تمدید شوي موده هم پاي ته رسیدلي وه نژدي وه چي یو سخت تصادم او جګړه رامنځ ته شي په همدي وخت کي اتحاد علماءغړو،جهادي قوماندانانواومخورو دتصادم دمخنیوي او دمشکل داساسي حل لپاره فیصله وکړه چي استاد رباني دخپل ریاست د معیادله ختمیدو سره سم باید دچارو واګي خپل لومړني مرستیال مولوي محمد نبي ته پریږدي او دمولوي محمدنبي تر اداري لاندي دشورا دتزکیي ، تکمیل او تدویر پروسه عملي شي :

بسم الله الرحمن الرحیم

اتحاد علمای افغانستان ۱۳۷۱/۹/۲٤

دافغانستان دجهاد محترمو رهبرانو السلام علیکم !

داتحاد علماي افغانستان غړو او دهیواد دبیلابیلو برخو جهادي قوماندانانو او قومي مخورو دروان کال دقوس میاشتي په (۲٤) نیټه لاندي پریکړه وکړه :

څرنګه چي دمحترم استاد برهان الدین رباني دریاست موده له پنځه څلویښت ورځني تمدید سره پاي ته رسیدلي او دځینو مشکلاتو او ملاحظاتو له مخي اهل الحل والعقد شورا په اساسي او منل شوي طریقه راغونډه نشوه ، له همدي ځایه ده چي دعلماوو اتحاد ، جهادي قوماندانانو او قومي مخورو دیوي ګډي جلسي په نتیجه کي پریکړه وکړه چي استاد رباني دي دخپل ریاست دمعیاد له پاي ته رسیدو سره سم دریاست چاري دجمهوري ریاست مرستیال محترم مولوي محمدنبي محمدي ته وسپاري او ددوي تر ریاست لاندي دي اهل الحل والعقد شورا

دتکمیل تزکیي او تدویر په لارو چارو غور او اقدام وشي څو په شرعي طریقه دامیرد انتخاب پروسه عملي کړي شي .

لدي پرته داوسنیو شرایطو له مخې بله هره یوه فیصله چي یوه اړخیزه بڼه ولري اوله اتفاقي شکل څخه بي برخي وي نه یواځې داچي موجوده مشکلات نشي حل کولي بلکي دلازیاتو ګډوډیو او جنجالونو سبب ګرځي ، له همدي امله به هغه دمنلو وړنه وي .

* دعلماوو او قوماندانانو لاسلیکونه *

دعلماوو او قوماندانانو یو هیئت دمحترم حقاني صاحب او محترم ذاکري صاحب په مشري پدي رابطه له جهادي مشرانو سره وکتل او پورتني فیصله یي هغوي ته وړاندي کړه .

ددغي فیصلي په اړه محترم مولوي محمد یونس خالص ولیکل :

وکتل شو :

داتحاد علماي افغنستان لیك او فیصله ټکي په ټکي دتائید او منلو وړده او زمونږ له خوا تائید اومنلي ده.

* مولوي محمد یونس خالص *

حضرت صبغت الله مجددي او پیر سیداحمد ګیلاني په نفس فیصله خپل رضایت څرګند کړ ویي لیکل :

نظر علماي کرام ملاحظه شد

حقیقتاً وقت ریاست استاد رباني منتهي ګردیده وباید قدرت را به شوراي رهبري انتقال دهد وشوراي رهبري قدرت را به محترم جناب مولوي محمد نبي صاحب ویا یك شخص دیګر که لازم ببیند تسلیم کند وشوراي اهل الحل والعقد تاهنګام اصلاح وتزکیه اعضاي آن که واقعاً اهل ونمایندګي ملت راداشته باشد ملتوي ګردد .

(صبغت الله مجددي) (سیداحمد ګیلاني)

ښاغلي حکمتیار هم لدي پریکړي سره موافقه وکړه خو استاد رباني اواستاد سیاف په رسمي توګه تحریري ځوابونه ورنکړل .

په همدي وخت کي ددي لپاره چي دشورا نمایندګان خپل مسوولیتونه درك او په شرعي طریقه دشورا دتدویر ضرورت ته متوجه شي الحاج مولوي جلال الدین حقاني او محترم ذاکري صاحب په کابل او انترکانتیننتال هوټلونو کي دشورا نمایندګانو ته عالمانه وینااوي وکړي او ددي لپاره چي شوراپه اساسي او منل شوي شرعي طریقه دائره شي هغوي ته خپلي طرحي او پشنهادونه وړاندي کړل چي دټولو له خوا ورسره دزوړنده شعارونو ترڅ کي توافق څرګند شو .

له همدي ځایه وه چي دشورا دمستحقو غړو او نمایندګانو په منځ کي هم داپریکړه وشوه چي باید شورا تزکیه ،اصلاح او تکمیل شي ،هغوي دعلماوو ، اوقوماندانانو دخیر غوښتني دفعالیتونو په تائید او ملاتړ پخپلو کي هم یوه پریکړه وکړه چي په هغه کي یي داتحاد علماي افغنستان ، جهادي قوماندانانو او مخورو دفیصلو او پشنهادونو ننګه او ملاتړ کړي او دشورا دتزکیي ، اصلاح او تکمیل دغوښتني تائید او دجهادي مشرانو په برخي اخیستلو او اتفاق ټینګارکړي و :

نحمده ونصلي علي رسوله الکریم امابعد

فقد قال الله تعالي في القران المجید

(وإذ ابتلي إبراهیم ربه بکلمت فأتمهن قال إني جاعلك للناس إماما قال ومن ذریتي قال لا ینال عهدي الظلمین) سورة البقرة ،۱۲٤

داهل الحل والعقد شوري دنمايندگانو او وکيلانو
لخوادافغانستان داسلامي دولت دستري محکمي
دشکاياتو داورونکي کمسيون لوړ حضورته
السلام عليکم ورحمة الله وبرکاة
محترمو! دپورته مبارک ايت شريف او دزياتو اياتو او
نصوصوداستناد په اساس اودمرکزي کمسيون
دلايحي دفصل ٤ ماده -١-٢-٣-٤-٥-٦-٧-٨ په
استدلال او زموږ د ٥/١٠/١٣٧١ نيټه دشوري
په فيصله لاندني عرض وړاندي کوو:
چي داهل الحل والعقد په سپيڅلي لفظ او پاکه
شوري کي دکمونستانو او ددوي دنمايندګانو ځاي
نشته.
اوکه داسلام خلاف او دشريعت خلاف او دلايحه
خلاف او دقانون خلاف په تحميلي توګه څوک
دکمونستانواو رشيد دوستم نمايندګان په شورا کي
قبلوي موږ مسلمانان په هغه شورا کي دوي نه
غواړو.
فلهذا زموږ داعرض دي چي راغلي اشخاص
دشوري داهل الحل والعقد دي په شرعي توګه تزکيه
شي چي غير مستحق او غير مسلم کسان يا دغير
مسلمو اشخاصو نمايندګان ځني تخليه او دعلماوو او
قوماندانانو غوښتني ومنل شي. په درناوي
دنمايندګانو لاسليکونه

پدي رابطه اتحاد علماي افغانستان، جهادي
قوماندانانو او مخورو دعقرب په (٢٩) نيټه وروسته
لدي چي ددوي دخپل مخکيني پشنهاد رسمي ځواب
تر لاسه نشواي کړي له رباني صاحب سره ملاقات
وکړ اوله ملاقات وروسته پداسي حال کي چي دده
دوهم معاون مولوي مير حمزه هم ورسره وه دربړي
دحل په خاطر لاندي پشنهاد ترتيب او وړاندي کړ.

بسم الله الرحمن الرحيم

اتحاد علماي افغانستان ١٣٧١/٩/٢٩

جناب محترم استاد رباني صاحب رئيس دولت
اسلامي افغانستان!
السلام عليکم امابعد:
داتحاد علماي افغانستان اعضا او جهادي
قوماندانان دموجوده مشکلاتو دحل په خاطر خپل
نظريات په څومادوکي ستاسو حضور ته وړاندي
کوي:
١- دشوراي اهل الحل والعقد دراغلو کسانو څخه
دهر ولايت دري نفره دمربوطه ولايت داستازو په
انتخاب تعين شي (يو نفر عالم يو نفر قوماندان او
يو قومي مشر) پورته هيئت بايد منظور او صلاحيت
ورکړشي چي لاندي وظيفي ترسره کړي
١- داسلامي شريعت مطابق دراغلو کسانوتزکيه
کول
٢- هغه رهبران چي ددوي په امضا او تصويب
شورا راغوښتل شوه اوس شرکت نکوي دهغوي
راوستل اودهغوي شرعي انتقادات اوريدل.
٣- کوم ولايات چي نمايندګان يي شورا ته نه دي
راليږلي دهغوي راوستل.
٤-دکومو ولاياتو دراليږل شويو مجاهدينو په مابين
کي چي اختلاف وي دهغه حل او فصل کول. پورتني
هيئت به سپارل شوي وظيفي دانتخاباتودسابقه
هيئت په شمول په کوتاترين فرصت کي ترسره کوي
انشاالله العزيز.
٢- شوراي قيادي داسلام دمقدس قانون دنظره

مردوده فیصلي یي داعتبار وړنه دي .
۳–ستاسو څخه خواهش کوو کوم مسؤلیت او وظیفه چي تاسو ته سپارل شوي وه چون وخت یي تیر شوي دي دالهي قانون مطابق یي باید خپل اهل ته وسپاري (ومن الله التوفیق)
* دعلماوو اوقوماندانانو لاسلیکونه *

خو کله چي استاد رباني ته نوموړي پشنهاد ولیږل شو دمخکني شفاهي موافقي باوجود یي دا ډول ځواب راغي چي دپورتني وارندیز واضح او مکمل ځواب نشي ګڼل کیدي .

بسم الله الرحمن الرحیم

ریاست دولت اسلامی افغانستان

علماي محترم !
به تزکیه که توسط نمایندگان محترم هر ولایت صورت گرفته موافقم مشروط براینکه این کار طي دو تاسه روز تکمیل وشورا منعقد گردد .
*دبرهان الدین رباني لاسلیك *۷۱/۹/۲۸

همدا رنګه اتحاد علماي افغانستان ،جهادي قوماندانانو او مخورویو متحدالمال پشنهاددشورانمایندګانو، ټولو مشرانو ،قوماندانانو او علماوو ته وړاندي کړ او هغه یي په ګڼ شمیر دشورا په نمایندګانو او قوماندانانو اودولت په اراکینو وویشه ، پدغه پشنهاد کي دهغو خطرونو او تهدیدونو یادونه شوي چي دموجوده اختلافونو او خودسریو له مخي زموږ د وطن او هیوادوالو په مخه کي دي

بسم الله الرحمن الرحیم

اتحاد علماي افغانستان ۱۳۷۱/۹/۲۵

الحمدلا هله والصلوة علي اهلها ،امابعد :
دافغانستان دمقدس جهاد علمبردارانو ، قوماندانانو ، علماي کرامو او داسلامي شوري اعضاوته !
السلا م علیکم ورحمة الله وبرکاة
ستاسو دجهاد او قرباني په برکت افغانستان او جهان دکمونستي ښامار له سلطي څخه الله عزوجل خلاص کړ ، لله الحمد، امادځوکي ، قدرت اوجاه دحریصانو داختلاف په سبب تر اوسه لاهم دافغانستان مسلمان ملت په ډیرو مصیبتونو کي پاته دي دپورته اختلاف درفع دپاره ډیر کوښښونه شوي او روان دي . تر اوسه هغه څه چي غواړو لاس ته نه دي راغلي . اوس چي دملت دهر قشراو طرفه دمختلفو اقوامو او ولایاتو متدین نمایندګان راغوښتل شوي او ځني راغلي دي ، اتحاد علماي افغانستان محترمو نمایندګانو ته خپله فیصله په لاندي ډول اعلا نوي .
۱– لکه ستاسو یواهم کار چي عبارت له جهاد مقدس څخه وُ ، دالله ج په نصرت کامیابه شو اوس ستاسو پر ذمه یو اهم کار چي عبارت له تعین داسلامي امیر اوخلیفه څخه دي حتماً داسلامي اصولو مطابق تعین شي ، اوکه داکار تاسو ونکړي نو ملل متحد او بیګانګانو ته به دفشار او لاس وهني زمینه برابره شي ،په خپل لاس به مو دځوارلس کلن جهاد مقدس ثمره او نتیجه ضایع کړي وي په هغه صورت کي به الله(ج) او اجتما ع ته مسؤل یو ، خسران ددارینوبه مو په برخه شي ، زموږ په فکر اول کارستاسو داسلامي ملت دنمایندګانو دادي چي دا اوه رهبران (اهل سنت والجماعت) سره متحد او په شورا کي سره یو ځاي کړي اتحاد علماي

افغانستان ستاسو سره پوره همکاري ته حاضردي .
٢- هر څوك چي تاسو دهغه دتعين او انتخاب اراده ولري ياهغه څوك چي تاسي يي كانديد ولوته دعوت كړي بايد دمخه تر تعين او انتخاب دهغه شخص څخه تحريري تعهد واخلي چي دالله (ج) قانون په مطابق داهل سنت والجماعت په طريقه دحنفي مذهب پوره او مكمل چلوي . ټول هغه قوانين چي داسلامي اصولو خلاف وي هغه به ټول ملغا اعلانوي.

٣- هرڅوك چي داسلامي شورا له خوا تعين اومنتخب شو دشورا اعضاء او ټول ملت به دمعين شخص سره تعاون اوهمكاري كوي داسلامي شورا اعضاء به دامير تر تعين وروسته له خپل مينځ څخه يولوي جماعت دحكومت په څنگ كي پريږدي دهغو وظيفه نگراني ، تعقيب ، تفتيش داسلامي حكومت داجراتو وي .

٤- كه چيري تاسو په داسي حال كي چي دجملي څخه د اوو رهبرانو يو يادوه حاضر اونور غيرحاضر اوخفه وي او دشورا سره مقاطعه اعلان كړي وي تاسي يو څوك په نامه دامير تعين كړي بي له اختلاف ،تكر تفرق ، تشتت څخه بله نتيجه به ونلري هغه كور چي دپنځلس لكو شهيدانو په وينو آزاد شوي دي بيرته به خداي(ج) دنكړي داسلام دښمنانو ته پاته كيږي .

٥- لكه څرنگه چي پخوا موږ اتحاد علماي افغانستان او جهادي قوماندانانو قيادي شورا او لويه جرگه ترديد كړي وه دشرعي فتوي په توگه فلهذا دا اوس راغلي اسلامي شورا داهل الحل والعقد پس له تكميل او تزكيي څخه دامسؤليت لري چي په منتخب شرعي امير كي شرعي اوصاف مراعات كړي . يعني علمي اهليت اوعملي قابليت او تقوي دي په نظر كي ولري . تنظيمي ، قومي ، لساني وغيره تعصباتو څخه دپر هيز وكړي ، اوكه چيري په مذكور ډول عمل ونكړي نو خيانت به يي دخداي (ج) او دهغه درسول كريم (ص) او دټولو مسلمانانو سره وي لكه چي دا مضمون دحديث شريف هم دي

(ومن الله التوفيق)

* دعلماوو او قوماندانانو لاسليكونه .*

دقوس په لومړي نيټه دجهادي مشرانو په عنوان يو بل ليك واستول شو چي په هغه كي اهل الحل والعقد شورا دتدوير او اسلامي شريعت دتنفيذ او تطبيق په اړه ددغو مشرانو پاملرنه جلب شوي او پدي رابطه يي له دوي څخه دتحريري ځوابونو غوښتنه كړي :

بسم الله الرحمن الرحيم

اتحادِ علمای افغانستان ١٣٧١/١٠/١

دافغانستان دجهاد مقدس رهبرانو ته ! السلام عليكم ورحمة الله وبركاة

دالله (ج) په نصرت دافغانستان ازاد اسلامي حكومت داسلامي اصولوسره مطابق داهل الحل والعقد دلاري جوړيږي داخواسته داتحاد علما دطرفه دفتوي فيصلي په شكل څوواره اعلان شوي ده ستاسو څخه ډير خوش يو چي دا اسلامي اصل مونه يواځي منلي بلكه په عمل مو شروع كړي ده جزاكم الله خيراً

څوسوالونه ستاسو حضورشريف ته وړاندي كوو

،تحريري ځواب به يي راکړي .
١- افغانستان اسلامي مملکت داهل سنت والجماعت کوردي دبل قانون دجوړيدلو او چليدلو حق نشته ايا تاسو وعده راکوي چي په دي ملک کي به اسلام دحنيفي مذهب مطابق وچلوي او کڼه ؟
٢-بقايادملحد پخواني رژيم لکه خلقيان ،پرچميان ،دوستميان ،مليشه وغيره نه په اسلامي حکومت کي ځاي لري او نه په اسلامي شورا کي حق دشرکت لري ځکه مخلوطه حکومت او شورا شرعاً مردوده دمنلو وړنه ده اياتاسو ځاي ورکوي اوکڼه په دي باب اطمينان راکړي ؟
٣-شوراي اهل الحل والعقد مطابق دشريعت مقدس بايد تزکيه شي په پوره حريت اوازادي خپله رأي دالهي قانون مطابق هر چاته چي يي زړه وغواړي وسپاري په دي باب ستاسو نظرڅه دي ؟
٤- دشورا دجوړيدلو او اصلاح او اکمال له پاره دامنيت ضرورت دي جنگ مقابله تکر بايد نه وي اياتاسو دجنگ دبندولو او دلاري خلاصولو وعده او تعهد راکوي کڼه ؟
دښځو ستر اوحجاب دالهي قانون مطابق چي بايد په خپلو کوروکي کښيني بي ضرورت شرعي راونه وځي که چيري دضرورت په خاطر راووځي بايد دستراو حجاب پوره مرعات وکړي
(وقرن في بيوت کن.الخ) (واذ اسئلتموهن متاعاً فسئلوهن من وراءحجاب) دپورته مدعا داثبات دپاره کفايت کوي په موجوده وضعيت دښځو او ددوي بي ستري او بي حجابي تعليم او تعلم دشريعت مقدس خلاف او مردود عمل دي ايا تاسو دالويه فتنه چي دسابقه حکومتونو څخه په ميراث پاتي ده جلوگيري کوي او که به دوام ولري ، چون د افغانستان داسلامي حکومت جوړولو په اسلامي طريقه دچليدلو لپاره دافغان اوجهان دمسلمانانو انتظاردي که په اوله وهله کي داسلام داصولو بنياد ستاسوپه ايدي شريفه سره وشي په مقتضاد حديث شريف (من سن سنته حسنتهً فله اجرها واجرمن عمل بها.الخ) تر څو چي هغه سنت جاري وي ستاسو به دثواب برخه وي فلهذا ستاسو څخه په ډير احترام خواهش کيږي چي پورته موادوته په پوره تفصيل سره ځواب راکړي زموږ داعقيده ده چي تاسو څوارلس کاله دافغانستان ملت ته داسلامي حکومت دجوړيدلواو داسلامي قوانينو دچليدلووعده ورکړي وه تاسوبه پرخپله وعده وفاوکړي .(ومن الله التوفيق)
* دعلماوو اوقوماندانانولاسليکونه *

ددغي غوښتني په ځواب کي محترم مولوي محمد يونس خالص ليکلي:

پورتني پنځه مواد مو ولوستل ، کاملاً ورسره متفق او متعهديم خداي (ج)دموږ او ټولو مسلمانانوته دهغي داجرا توفيق راکړي . با احترام
* مولوي محمديونس خالص *١/١٠/٧١

استاد سياف پدي هکله داسي ليکلي :

زما اودمولوي صاحب خالص يو نظر او تعهد دي ددي ليکني تائيد کوم
* سياف *

دحرکت انقلاب اسلامي مرستيال مولوي محمد شاه

فضلي ليكلي :

.....پنج مواد تحريري علماي كرام بدون قيدوشرط قبول داريم ومواد مندرج ورقه هذا مطابق شريعت غراي محمدي بوده در تطبيق ان انشاالله اقدام جدي بعمل مي ايد وماهيچوقت از احكام شرعي مخالفت نكرده بلكه پيروي ان ايمان مابوده وميباشد
الحاج مولوي محمد شاه فضلي كفيل مقام امارت

استاد رباني ليكلي :

بسم الله الرحمن الرحيم

رياست دولت اسلامی افغانستان

علماً محترم حفظكم الله ورعاكم !

السلام عليكم ورحمة الله وبركاة وبعد !

به ارتباط اجراي احكام شريعت غراي محمدي درهمه ساحات زندگي متذكر مي شوم :

همه مابه خاطر اعلاء كلمةالله وتنفيذ شريعت اسلامي وازبين بردن تسلط كفر والحاد قيام نموديم وجز تطبق شريعت هدف وارماني در زندگي ندارم ، تطبيق حجاب شرعي وجيبه دولت اسلامي بوده ، اميد وارم انشاالله به كمك علماي محترم شريعت اسلامي در همه ادارات دولتي نافذ گرديده ، اجازه نميدهم عناصر غير مسلمان به مقدارت كشور مسلط گردد . (برهان الدين رباني) ٧١/١٠/٥

ښاغلي انجنير حكمتيار په تفصيل سره ليكلي :

بسم الله الرحمن الرحيم

گلبدين حكمتيار | Gulbuddin Hekmatyar

امیر حزب اسلامی افغانستان | AMIR OF HEZB ISLAMI AFGHANISTAN

تاريخ : ٣/جدي/١٣٧١ | DATE:

دعلماوو داتحاد محترمي شوري ته

السلام عليكم ورحمة الله وبركاة

له الله (ج) نه تاسوته دخپلو ايماني دندو په ترسره كولو كي مزيد توفيق غواړم ، ستاسو ليك مي ولوست په ځواب كي عرض كوم :

١- دافغانستان اكثريت خلك اهل سنت وجماعة دي طبيعي ده چي دحكومت عام قوانين به ددوي دمذهب مطابق وي خو په انفرادي چارو كي به هر چاته دخپل مذهب دمراعات حق حاصل وي ، مونږ دامام ابوحنيفه (رح) مذهب پدي خاطر منلي چي په اجتهادي قضاياوو كي مو دده استنباط له قران او سنت نه تر بل هرچا دقيق موندلي .

٢- په اسلامي حكومت كي بايد اقتدار دصالح ، متقي باكفايته او اهل كسانو په لاس كي وي او كمونسټ ملحد او مفسد عناصر په اسلامي حكومت كي دګډون او په ولس داستيلا او سلطي حق نلري .

٣- مونږ لداسي شورئ سره چي دولس واقعي نمايندګي او تمثيل وكولاي شي ،مستقيماً دولس له خوا انتخاب شي اويادهري ولسوالي دمنل شوي او متفق عليه شوري له خوايي غړي معرفي شي كاملاً منو او حق وركوو چي دراتلونكي حكومت په هكله فيصله وكړي خو داسي شوري چي دجعل كاري او رشوت له لياري داهل حل وعقد په نامه جوړه شي نشو منلي .

٤-كه قدرت يوه منل شوي ، مؤقت حكومت ته

وسپارلي شي او بيا دتصويب شوي لايحي سره سم دشوري دجوړيدو او دغړو دانتخاب كار پيل شي مونږ له اوربند سره موافق يو اوتعهد كوو چي پدي موده كي به دامنيت د تامين او دجګړو دمخنوي لپاره هر راز تعاون ته تيار يو .

٥-دښځولپاره دالهي احكامو مطابق دحجاب مراعات شرعي وجيبه ده او اسلامي دولت مكلف دي چي دعرياني ، اخلاقي فساد او دښځو او نارينه وو داختلاط مخنيوي وكړي .

په موجز او مختصر طور بايد وليكم چي مونږ د ژوند په ټولو اړخونو كي داسلامي شريعت تطبيق غواړو كه دا په خارجي سياست كي وي او كه په داخلي چارو كي ، كه په انفرادي ژوندكي وي او كه په اجتماعي پيښو كي ، دجنګ او صلحي په حالت كي- له مسلمان سره په دوستي كي اوله كافر سره په دښمني كي او دامير په انتخاب او دده دصلاحيتونو په اړونده او په هرڅه كي بايد داسلامي لارښوونو مطابق عمل وشي اوله هغه څه نه چي اسلام يي حرام ګڼي او ممانعت يي كوي بايد په انفرادي او اجتماعي طور له هغه نه ډډه وشي

په احترام (حكمتيار) ٣ جدي ٧١

پدي توګه علماوو او قومانداانان په ټولو مشرانو وګرځيدل دسختو ستونزو او خطرونو قبلولو ته يي اوړه وركړه په ساره ژمي او دبي امني په بي اطمينانه فضا كي هر مشرته ورغلل او دبحران دحل لاري چاري يي ورته په ګوتو كړي ددين وطن او خلكو په خاطر يي خپلي ځولي دوي ته وغوړولي خو په تاسف سره بايد ووايو چي دولتي واكمنو دعلماوو او قومانداانانو دپشنهادونو په اړه دكوم مثبت چلند څرګندونه ونه كړه ، دشورا دتدوير په اړه يي له تعجيل څخه كار واخيست او بي له دي چي شورا تزكيه، تكميل اصلاح او اتفاقي بڼه غوره كړي دشورا دتدوير پروسه يي چټكه كړه ، پداسي حال كي چي ددولت درئيس تمديد شوي موده هم پاي ته رسيدلي وه بيله دي چي دقدرت دساتلو كوم قانوني جواز ولري قدرت له ځان سره وساته ،نه يي خپل معاون (مولوي محمد نبي) ته چي قانوناً پداسي مواردو كي دواګو سپارلو حق لري قدرت وسپاره او نه يي دشورا دتزكيي اصلاح او تكميل په اړه دپشنهادونو له تطبيق سره همكاري وكړه ، پداسي حال كي چي پنځو جهادي ګوندونو او څو ولايتونو په قطعي توګه شورا تحريم كړي وه بيله دي چي په شورا كي ددغو اړخونو دګډون په هكله دعلماوو داغوښتني او وړانديزونه عملي شي دشورا دتدوير اعلان وكړ .

د **جرګې** په اوومه نيټه داستاد رباني له خوا همدغسي ناقصي شورا ته دمحترم ذاكري او محترم حقاني صاحب دبلني يو مكتوب په لاندي متن راورسيد

بسم الله الرحمن الرحيم

رياست دولت اسلامي افغانستان

برادران محترم علماءكرام حفظهم الله

السلام عليكم ورحمة الله وبركاة وبعد

به خاطر شكوهمندي بيشتر مجلس اهل حل وعقد

امیدوارم به شمول جناب مولوي صاحب عبدالله ذاکري وجناب مولوي صاحب حقاني به تعداد بیست تاسي نفر رامعرفي نموده ممنون سازید .

السلام علیکم

(برهان الدین رباني) ۷۱/۱۰/۷

خو ځرنګه چي شورا ناقصه وه تزکیه او تکمیل شوي نه وه او دامیر دټاکني له صلاحیت څخه برخمنه نه وه ځکه خو علماوو په شورا کي برخه وانه خیسته او پدي رابطه یي استاد سیاف ته لاندي مکتوب ولیږه .

بسم الله الرحمن الرحیم

اِتحادِعُلمایِ افغانستان ۱۳۷۱/۱۰/۸

جناب محترم استاد سیاف صاحب !

السلام علیکم ورحمة‌الله وبرکاة امابعد :

محترما ! ستاسو شفقت او احترام دعلماوسره چي لري یي مونږ ته معلوم شو ستاسو په کوشش دیرش نفره علمادرباني صاحب دطرفه منظوراو دشورا دشمول اجازه نامه مونږته ورسیده اما ته یقین ولره چي له مونږ سره دافکر نشته چي دشورا دنماینده په نوم یاد شو که راغلي یو خاص داسلامي مسؤلیت درفع کولو او دالهي قانون دپر ځاي کولو داسلامي حکومت داسلامي اصولو مطابق جوړولو او دهغه سره دکمك کولو په فکر راغلي او داموقصد او اراده وه اوده .ترهغه ځایه چي زموږ طاقت ؤ هغه مو مصرف کړ اماچندان فایده یي ونکړه اوس وعده درکوو چي ستاسو مقابله نه کوو که چیري اسلامي حکومت جوړ شو الله (ج) دي جوړ کړي همکاري به درسره کوو او که چیري ستاسي دحکومت جوړولو څخه فتني اوټکر پیښ شو مسؤ لیت بي یي درباني اوستا پر غاړه وي.په داسي شورا کي چي داوو رهبرانو دجملي څخه یو اویادوه حاضر او نور غیر حاضر حتي دمقابلي علانونه کوي او دبله طرفه دملحد دولت بچیان او بقایاپه تغیر دنام په ډیر تعداد پکي موجود وي ، اتحاد علماي افغانستان مخلوطه حکومت او مخلوطه شورا ردکړي او رده وي يي، په دي باب یي فتوي چاپ او نشر شوي دي تاسو خپله مونږته تحریر راکړي چي مونږ دعلماو فتوي تائید وو او هغه شوري ته به نه ورځم چي دافرادو تزکیه یي نه وي شوي او د خالص صاحب نظر زما نظر دي اوس خالص ورسره مخالف او تاسو ورسره جوړياست په هر حال اخیر نظر چي ستاسو حضور شریف ته یي وړاندي کوو هغه دادي :

چي رباني یو مکتوب بایدجوړ کړي علماوو او قوماندانانو ته اجازه ورکړي چي دشریعت مقدس مطابق ټول مرور که رهبران وي یابل څوك باید شوري ته راولي موږ به کوښښ وکړو انشاالله العزیز په لږ وخت کي به قناعت ورکړو په شوري کي به شریك شي که چیرته چا دشریعت مقدس مخالفت کاوه هغه به موږ معلوم کړو ، اوملت ته به یي اعلان او ښکاره کړو ددیرشو ولایاتو څخه به في ولایت دري نفره چي مجموعه یي (۹۰) نفره کیږي زموږ ملګري وي که چیر دپورته نظر سره موافق یاست درباني په امضا مکتوب راولیږه والاته پوه شه اوستاشوري .

* د علماووا و قوماندانانو لاسلیکونه *

استاد سیاف ددغه مکتوب په ځواب کي لیکلي

محترمو ورونو علماي کرام حفظه الله

السلام علیکم ورحمة الله وبرکاة وبعد :

ماپه استاد خط ولیکه او دیوه هیئت په ذریعه امرصاحب حکمتیار ته واستاوه شه او یو هیئت ستاسي خوا ته درواستاوه شه چي په گډه مولوي خالص سره خبري وکړي، اوږدي ښه پوه واوسي چي خداي ناخواسته که ټول خلك ائتلافي نظام ومني داتحاد تنظیم ته یي منل له امکان څخه ډیر لري ښکاري ، چي دګلم جم په نامه یو نفر هم پدي مجلس کي ناست وي زه به پکي نه یم ، زما دنني خبرو فیته دروغواړي تاسي ته به پته ولږي چي موږ څه غواړو ، هیله ده چي ورونوپه قناعت کي تاسي هم مرسته وکړي او که داشورا رنگه شوه بیا به دحزب وحدت پشنهاد تر غور لاندي نیوه کیږي .

والسلام (سیاف)

په همدي ترځ کي دجدي په لسمه نیټه محترم مولوي خالص داستاد رباني په نوم یو لیك واستاوه چي په هغه کي یي دعلماوو دغوښتنو منلو او عملي کولو او دشورا دتزکیي او دغیر اسلامي عناصرو دنفوذدمخنیوي پر ضرورت ټینگار کړي:

Hezb-e-Islami Afghanistan
Shk Jalaludin Haqani Office
for Afghan Al Mujahidin Affairs
Internal Affairs
U.P.O.Box: 1033- Peshawar- Pakistan
Tel: 810482 : 42204

حزب اسلامی افغانستان
مکتب الشیخ جلال الدین حقاني
للشئوون المجاهدین الافغان
للشئون الداخلية
ص . ب ۱۰۳۳ : U.P.O.Box
تلیفون: ۸۱۰۴۸۲ : ٤۲۲۰٤
پشاور . پاکستان

الجهاد ماض الی یوم القیامة

محترم استاد رباني صاحب السلام علیکم

لکه څنگه چي موثوقه اطلاع رارسیدلي ده دوستم یو تعداد خلك چي قبلاً داسلامي جهادي تنظیمونو غړي وه راالستولي دي او تاسو غواړي په همدي پلمه په شورا کي ځاي ورکړي حال داچي ددوستم نماینده منل پخپله یو مردود او نامنلي کاردي ولو که ستر عالم هم وي له بلي خوا یوه ډله عالمان دي دپاره راغلي دي چي واقعي داهل الحل والعقد شوري جوړه شي او تزکیه شوي خلك پکي ومنل شي تر څو ټول جهادي مشران ورکي گډون وکړي خو په مختلفو وسایلو دهغوي مخه نیولي شي ځکه نو په دي وسیله احترامانه خبر درکوو که د دوستم له خوالیږل شوي یو غړي پکي شامل شي او یا خو دعلماو اسلامي غوښتني ونه منل شي موږ به پکي گډون ونه کړو او دعواقبو مسؤ لیت به ستاسو په غاړه وي

په احترام (مولوي محمد یونس خالص)

۱۳۷۱/۱۰/۷

خو له دي ټولو کوښښونو سره دولتي واکمنو دحل اوعقد په نوم شورا په هماغه ناقصه توگه دائره کړه پداسي حاکي چي نمایندگانوته دخپلو نظریاتو، پشنهادونو او غوښتنو داظهار حق او وخت نه وُحاصل او له جهادي مشرانو څخه یواځي استاد سیاف حاضر وُ او څو ولایتونو په کلي توگه په شورا کي برخه نلرله او دنورو ولایاتو دنمایندگانو په رابطه هم شکایتونه او انتقادونه موجود وو حتي کابل ته درارسیدلو نمایندگانو یو زیات شمیر په شورا کي برخه نلرله له یوه ډرامایي حرکت سره په تالار کي یواځیني کاندید دهیواد دجمهور رئیس په توگه اعلان کړ .

په شورا کي د رايي په طرز او دموجوده سانسور په هکله الحاج مولوي نظام الدين حقاني او ګنو نورونمايندګانو اعتراض وکړ خو هلته دواکمنو بريڅو او دانتخاباتو دپروسي متصديانو په هماغه خپله غوره کړي طريقه دانتخاباتو جريان په لارو چارو هماغه وو چي مولوي نظام الدين حقاني دغونډي له تالار څخه داحتجاج په عنوان له ګڼو نورو نمايندګانو سره ووت او پداسي حال کي چي دتالار دروازي تړل شوي او مسلح ساتونکي ګوته په ماشه ولاړ وو د نوي جمهور رئيس دټاکني اعلان وشو .

لدي وروسته علماوو ، قوماندانانو او مخورو يوه اضطراري غونډه وکړه په غونډه کي الحاج مولوي جلال الدين حقاني وويل :

موږ ددي لپاره نه يو راغلي چي څه قدرت ته ورسيږو او يا له دغو دوو ډلو څخه يوه کمزوري او بله برلاسي کړو، زموږ هدف دادي چي جامعي ته داسلام په چوکاټ کي ژوند حاصل شي دخداي (ج) ددين دتطبيق لپاره يوحاکم پيدا شي، تر پرون پوري موږ په يوه رنګه کوښښ کاوه نن به بيا هم کوښښ کوو ، موږ داخبره کوله او پدي هيله وو چي ددغي شورا له لاري به يوه شرعي حکومت جوړ شي جنګ اوله بيت المال سره به دا ناجايز برخوردختم شي سوله اطمينان او امنيت به ټينګ شي ، خو دوي چي اوس دافتنه را ژوندي کړه او او ديوي سالمي شورا او سالم حکومت چي اطاعت به يي موجود وي او په ټولو ولاياتو به تسط ولري ددي لپاره ټول کوښښونه او هلي ځلي يي بي نتيجي وګرځولي دوي شورا په غلطه طريقه استعمال کړه مخکي لدي چي شورا تکميل او تزکيه شي او واقعاً صلاحيت پيدا کړي دوي له عجلي کار واخيست خو موږبايد نا اميده نشو ځکه پرون هم زموږ مکلفيت معلوم وُ نن هم زموږ مکلفيت معلوم دي ، موږ نن هم مکلفيت لرو پدي هکله دخداي (ج) حکم معلوم دي چي ذات البيني اصلاح راولو حکومت اسلامي کړو ددوډلو تر منځ دجګړي مخه ونيسو .

محترم ذاکري صاحب هم پدي رابطه دحقاني صاحب دخبرو تائيد وکړ زياته يي کړه چي موږ داشخاصو پر سر بحث نه کوو چي څوك بنه دي او څوك ندي ښه هر څوك چي وي خو چي له شرعي طريقي څخه په منل شوي طريقه سره غوره شي زموږ هدف له شرعي طريقي څخه هماغه داهل حل اوعقد شوراد تدوير له لاري دزعيم انتخاب ؤ داهل حل اوعقد شورا هم شرطونه لري چي بايد مرعات شي زه وايم چي موږ به خپل مسووليت چي لرو يي هغه ترسره کوو او دسولي او صلاح په لارکي به نه مايوس کيږو او له هلو ځلو څخه به لاس نه اخلو .

خو استاد رباني له خپل انتخاب وروسته شورا ته پخپله لومړني وينا کي وويل :

...هغه قوماندانان او علماچي دسولي لپاره يي فعاليت کاوه لدي کبله چي حکومت دملت دنمايندګانو له خوا انتخاب شوي مقابل طرف دباغي حکم لري

نور دسولي دفعاليتونو لپاره ځاي ندي پاتي ځکه
يوي خواته اسلامي منتخب حكومت دي او بل خواته
دهغي مخالفين چي دباغيانو تر حكم لاندي راځي
ولاړدي لدي وروسته د دوو طرفونو په نوم څه نشته
ځكه خو دسولي فعاليتونوته هم ضرورت نشته.
خوداستاد رباني دي ته پام نه وُچي علماوو او
قوماندانانو دسولي دفعاليتونو تر څنگ داهل حل
اوعقد شورا دتكميل او په شرعي طريقه دهغي
دتدوير او داسلامي احكامو په چوكاټ كي دامير
دانتخاب لپاره هم كوښښونه كول ، دلاري دخلاصيدو
او پر كابل دحملي نه كولو په لار كي هم ددوي
فعاليتونه او هلي ځلي وي چي لاري خلاصي او
دجگړي مخه ونيول شوه ، ددغي تكي او همدارنگه
دروانو حالاتو په رابطه الحاج مولوي جلال الدين
حقاني دجدي په يولسمه نيټه د بي ، بي سي راديو
دپښتو څانگي خبريال ديوي پوښتني په ځواب كي
څرگنده كړه .
اهل حل اوعقد شورا ډير ښه چانس ؤيدي سره
دموجوده دربدريو او دښمنيو مخه نيول كيدي شوي
خو متاسفانه واكمنو له تعجيل څخه كاواخيست او
داچانس خپله حكومت له لاسه وركړ .
ښايي ووايم چي دي شورا تكميل غوښت ،كه مرور
ليډران پكي شامل شوي او شورا اصلاح او تزكيه
شوي واي نو پدي سره به يو حقيقي قوي اسلامي
حكومت جوړ شوي و، ولايات به هم له مركز سره تړل
شوي وو، ائتلافونه به هم ختم شوي وو خو دوي
دعلماوو او قوماندانانو پشنهادونو ته پاملرنه ونكړه
مخكي لدي چي شورا تكميل او اعتراضونه رفع شي
په تزوير اوجعل كاري سره انتخابات وشول ، نه
كانديدانو ته حق وركړي شو نه چاته دخپلي راءيي او
نظرداظهار وخت وركړل شو .
علماوو او قوماندانانو ډير كوښښ وكړ چي سوله
راشي او په سمه طريقه حكومت انتخاب شي تر څو
دجنگ منشأ ختمه شي خو حكومت دغو مساعيو ته
مثبت ځواب ورنكړ ، موږ دوي ته پشنهاد وكړچي
څرنگه داستاد رباني دقدرت موده پاي ته رسيدلي ده
بايد قدرت خپل مرستيال ته وسپاري او هغه به
دشورا دتكميل اصلاح او تزكيي پروسه تعقيب كړي
بيا كه دي انتخاب شو كه بل هر څوك دا حكومت به
نماينده حكومت وي خو دوي لكه مخكي مو چي وويل
بيړه وكړه ځكه خو اوس دموجوده بدبختيو ددوام او
تشدد ويره له پخوا زياته موجوده ده فكر كوم چي
رباني صاحب دخپلومشاورينو دغلطو مشورو له
مخي پداسي نا مناسب اقدام لاس پوري كړي .
اوس دوي له علماوو او قوماندانانو څخه دسولي هغه
فرصت هم واخيست پداسي حال كي چي ملت ډير
مظلوم او دلوږي او ساړه ژمي له مرگوني تهديد سره
مخامخ دي ددوي داعمل به نور هم ملت له مصيبتونو
سره مخامخ كړي .

كه چيري په واقعي توګه لكه موږ چي پشنهاد كړي ؤ داهل الحل والعقد شورا دائره شوي واى دجګړو مصيبتونه او دعدم استقرار ستونزى به له منځه تللى واى

پوښتنه : څه موده دمخه ستاسي په مشري دافغانستان قوماندانانو علماوو او سپين ږيرو استاد رباني ته پشنهاد كړي ؤ چي قدرت خپل مرستيال ته وسپاري خو داسي ونشول او استاد رباني ددووكالو لپاره دجمهور رئيس په توګه انتخاب شو ستاسي نظر پدي هكله څه دي ؟

ځواب : څرنګه چي داستاد رباني تمديد شوي موده هم پاي ته رسيدلي وه او دشورا دتدوير په هكله له جهادي مشرانو سره ملاحظي او انتقادونه موجود وو موږ غوښتل چي شورا په واقعي توګه تكميل او دائره شي او ټول جهادي ګوندونه په شورا كي برخه واخلي خو استاد رباني زموږ دي پشنهاد ته چي قدرت دي خپل مرستيال ته وسپاري مثبت ځواب ورنكړ همغه وو چي شورا په ناقصه توګه دائره شوه او پنځو جهادي تنظيمونو هغه تحريم كړه .

پوښتنه : ستاسي نظر درباني صاحب دجمهور رئيس دټاكني په هكله څه دي ؟

ځواب : زما شخصي نظر پدي هكله دادي چي كوم مشكل چي موجود و هغه په خپل ځاي پاتي دي.دامن استقرار او يوه قوي مركزي اسلامي حكومت جوړيدل چي داهل الحل والعقد شورا دتدوير له لاري ممكن وو هغه لاس ته رانغي كه چيري په واقعي توګه لكه چي موږ پشنهاد كړي ؤ داهل الحل والعقد شورا دائره شوي واي نو لدي مشكل څخه به زموږ هيواد وال خلاص وو او دمظلوم ملت دغه ستر ارمان به سرته رسيدلي ؤ.

پوښتنه: ځيني مشران له قدرت نه داستاد رباني ګوښه كيدل غواړي او خپله دي غواړي په قدرت كي پاتي شي تاسي څه فكر كوي په كابل كي به څه پيښ شي ؟

ځواب : زه فكر كوم دا دواړه جانبه دزور له لاري داكار ترسره كول غواړي خودادحل لار نده ، بايد دخبرو له لاري دحل منځني لار وموندل شي داسي چي دمظلوم ملت دغه ستره ارزو سرته ورسيږي او داجګړي او ويني توئيدل ختم شي . دغه دواړه لاري چي يو په زور په قدرت كي پاتي كيدل اوبل په زور دهغه ليري كول غواړي معقولي لاري ندي چي په حقيقت كي دكابل دبي دفاع ښاريانو كونډو او يتيمانو سره ډير زيات ظلم او جفاګڼلي شي .

پوښتنه : دقوماندانانو او علماوو

نظر څه دي ؟
ځواب: په مخکنيو ځوابونو کي مونږ دي ټکي ته اشاره کړي چي بايد دخبرو او مفاهمي له لاري دامشکل حل شي . خو داهم بايد ووايم چي مخالفين دي دلاري بندولو او حملي نه ډډه وکړي او دولتي واکمن هم بايد له تعجيل نه کار وانه خلي ځکه چي دشورا تعجيل دامشکلات پيدا کړي بايد دخبرو له لاري که څه تنزيل هم پکي وي بايد دا ستونزه حل شي او ديوي سالمي اداري په جوړيدو هيوادوال لدي بحران څخه نجات پيدا کړي ددي لپاره بايد دواړه متخاصمي ډلي دزاړه رژيم بقاياچي په خپلو څنګوړي يي نيولي هغه لري کړي .
پوښتنه :لدي بحراني حالت څخه دهيواد دوتلو لپاره کومه لار پشنهادوي؟
ځواب : په مخکنيو ځوابونو کي زمونږ موقف پدي هکله واضح شويدي خو داهم بايد ووايم چي متخاصمي ډلي بايد داهل الحل والعقد شورا غړو ته چي اکثريت يي ښه خلك دي اختيار ورکړي چي دا مشکل دخبرو له لاري حل کړي دا نمايندګان هم بايد مأيوس نشي او په صبر او حوصله دي کارته دوام ورکړي څو هيواد په يوه معقوله طرحه لدي بحران څخه وباسي .
پوښتنه : درباني صاحب په قدرت کي پاتي کيدو سره به دکابل محاصره دوام ومومي او دولاياتو اړيکي به له مرکز څخه لري پاتي شي که څنګه ؟
ځواب :طبعاً که مشکل حل نشي کابل له به سختي محاصري سره مخامخ شي او ولايات به په همدغسي بي سرنوشتي له مرکز څخه لري پاتي وي ، څرنګه چي شورا ناقصه وه اصلي مشکل په خپل ځاي پاتي دي .
پوښتنه : دربري دحل لپاره ستاسي غوښتنه څه ده ؟
ځواب : دنمايندګانو او بي طرفه قوماندانانو يو کمسيون بايد رسمي شي او په بيطرفانه توګه دي دحل لپاره دلارو چارو دپيداکولو په لټه کي شي . متخاصمي ډلي بايد له جګړي ، محاصري او دلاري له بندولو ډډه وکړي مسله به طبعاً داسي حل کيږي چي دټول ملت لپاره دمنلو وړ وي .
څرنګه چي شورا په سمه او منل شوي طريقه دائره نشوه ، هغوي چي شورا تحريم کړي وه رانه وستل شول دشورا دتکميل ، تزکيي او اتفاقي شکل لپاره زمونږ غوښتني ونه منل شوي ځکه خو اصلي مشکل په ځاي پاتي دي خو دابياهم تکراروم چي له جګړي، راکټي حملو او دلاري له بندولوڅخه بايد ډډه وشي .
پوښتنه :ايا تاسي اوس هم دسولي په هلو ځلو مصروف ياست که څنګه ؟
ځواب : هو !دازمونږ مسؤليت دي ، مونږ دالله تعالي (ج) بنده ګان يو دبنده بنده ګان نه يو . جنګ دمرض علاج او دوانده ، حل په جنګ نه کيږي بلکي دخبرو له لاري کيږي بايد دواړه جانبه صالحو او بي طرفه قوماندانانو او علماوو ته اختيار ورکړي او په خپلو وعدو صادقانه عمل وکړي .
الله تعالي (ج) دمسلمانانو په منځ کي دحل لار سوله او مصالحه مقرره کړي نه جنګ اووړني تويول .
مونږ مايوس نه يو اوس هم لګيايو تماسونه نيسو چي يوه معقوله لار پيدا کړو او دامشکل حل کړو.

نگرش کوتاه

برمتن ورق پاره ای تحت عنوان

(تفسیری ازکلمه ء سوء تفاهم)

بتاریخ ۱۳۷۱/۹/۲۳ درشهر کابل اوراقي نشر وتوزيع گرديد كه موقف دولت را در رابطه باوقايع اخيرناشي از اختلاف شديد درگروهبندي اداره كابل منعكس مي نمايد .

متن ورقه قواي رشيد دوستم و حزب وحدت را باهمكاري پير گيلاني وحضرت مجددي به سرنگوني دولت از طريق يك حركت ناموفق كودتايي كه گروه پرچم ببرك كارمل نيز درخفاي ان نقش داشت متهم نموده ازيك جبهه ائتلافي قوت هاي مزبور نام ميبرند .

ولي جالب اينست كه تا اينندم دولت- قواي دوستم ونادري را جز قوت هاي وزارت دفاع ميدانستند وارتباط دوستم ، حزب وحدت وببرك را مبني بر ائتلاف انها اعتراف نمي نمودند ولي اينك علاوه بر اعتراف ائتلاف در كودتاى ناكام نقش كارمل نيزيادآور شده

ازمداخله مستقيم دولت ايران نيز نام ميبرد واز روش پاكستان وسعودي نيز مبني بر بيش از حد محاسبه كردن قوت هاي دوستم شكايت مي نمايد .

همچنان جعفرنادري ،دوستم وحزب وحدت را در برابر اينكه جمعيت بخاطر حمايت از انها وبه اصطلاح پشتيباني از حقوق اقليت ها اتهامات گوناگون ومشكلات زيادي متحمل گرديد ه ايشانرا به پشت پازدن به اين همه دلسوزي هاي جمعيت ملامت قرار داده اين عملكرد انها را از دست دادن يك متحد نيرومند(جمعيت) تقلي نموده است .

نقطه جالب ديگر اينست كه ايشان بخاطر جلب حمايت مجدد ائتلافيون مسله پشتون وتاجك را مطرح نموده گوانيكه پشتون ها از اول با انها روابط خوب نداشت ازينرو نمي بايست با تاجكها كه جمعيت خود را نماينده ووارث انهادانسته چنين روش خصمانه اي از خودشان ميداد .درحاليكه مسله

این قوم و آن قوم در میان نبوده ونیست ودامنه زدن به این اتش به نفع هیچ کسي تصورنمي شود، درین ضمن دولت بازهم چشم امید بسوي انها دوخته تمني مي نماید که انها در صددجبران این عمل شان اقدام نماید .

ازسوي دیگر دولت با وصف این باز هم هیچگونه اقدامی در مقابل سران ومتهمین کودتا از خودشان نداده ، گواینکه از هر نوع اقدام متقابل عاجز بوده در صدد کسب حمایت انها مي باشد که نباید این اشتباه را تکرار کرد .

نتیجه اي که ازین مطالب بدست مي اید اشتباه رهبران دولت است که بخاطر کسب ودوام اقتدار جناحهائیکه قطعاً در جهاد وانقلاب اسلامي مانقش نداشته وبرضد ان فعالیت نموده محور قوت وحمایت خود میدانستند از همینرو حوادث ناگوار ودلخراش ،جنگ هاي تباه کن ، چوروچپاول وعدم استقرار توسعه یافته ، صلح ، امنیت ووحدت ملي را در کشور همچنان تهدید مي نماید .اعتراف دولت براین که دوستم ونیروهایش هم از نظر سیاسي میان قوت هاي مجاهدین تنهابوده وهم از جهت مواضعیش درشمال اسیب پذیر مي باشد خودبیانگراین حقیقت است که ائتلاف وحمایت بیدریغ دولت از انها خود درتشیهرسیاسي وتبلیغاتي قواي دوستم قیمت گزافي بود که دولت در پرداخت ان به انزواي سیاسي ومردمي مواجه است پذیرفتن وبازگونمودن این مسله که دوستم وملیشاي ان چیزي بیش تر ازینراهاي تبلیغاتي نیست دولت رادراه حصول دوباره موقف واهداف سیاسي اش کمك چنداني نخواهد کرد درین ورقه بالهجه شکایت امیز از روش ایران وپاکستان نیز شکایت صورت گرفته متذکر میگردد که کشورهاي ایران وپاکستان از رهبران کنوني افغانستان چه توقع دارد که از عهد ان بر امده نمي تواند ، ان نظام چه وان افرادکه؟

مطلب فوق مبین این واقعیت است که گویارهبران دولت کنوني حاضر اند همه سیاست ها ومقاصد سیاسي و...، ایران وپاکستان را تامین وپیاده نماید ، پس ضرور ولازم نیست که انها درجستجو، ترجیح واستخدام گروها وپشتیباني اشخاص ونیروهاي دیگري باشد. که نباید چنین مي بود. در اخیر دولت این همه وقایع وجریانات را بنفع خود حساب نموده انرا در ایجاد پشتیباني وسیع دولت تقلي نموده ولي حیف اینکه باز هم این پشتیباني را صبغه قومي دانسته انرا پیروزي بزرگ خود میدانند.

این همه مسایل در مجموع قابل تأمل بوده که از حیث عواقب وخیم ان نباید به تکرار ان دست یازید .

ما ازین بیشتر نمي خواهیم بر مطالب این ورقه بحث وتبصره نمایم ولي بحیث یك سند وارائه معلومات بیشتر در رابطه باوقایع وجریانات اخیر کشور متن کامل انرا نشر مي نمایم

(اداره)

بسمه تعالي

تفسير از كلمه «سوء تفاهم»

كشمكش خونين هفته قبل ميان يك جبهه ائتلافي وقوتهاي تحت فرماندهي وزارت دفاع وهمزمان با ان تبليغات غلط رسانه هاي خبري جهان تحول عميق وتازه اي بعد از پيروزي انقلاب اسلامي در افغانستان بود كه مي تواند اثرات دوررسي برجريانات سياسي افغانستان وارد ارد ؟

جبهه ائتلافي مشتمل بود برمحاذ ملي (پير گيلاني) جبهه نجات ملي (حضرت مجددي) حزب وحدت به سركردگي (عبدالعلي مزاري) ،قوتهاي لشكر۵۲و۸۰ به فرماندهي جنرال دوستم وسيد جعفر نادري و در خفادسته پرچميان كارملي ، كه از حمايت دولت ايران برخوردار بودند .

اين جنگ يك هفته اي با حركت ناموفق نيروهاي مربوط به مليشاي دوستم در كابل به اوج خود رسيد ، وسر انجام دو طرف بااعلان اينكه ، سوء تفاهمي رخ داده ، دست ازماشه گرفتند ، ودرين جريان ازشمال كابل هزاران مجاهد مسلح از ولايت پروان ، كاپيسا به پشتيباني از دولت اسلامي بكابل شتافتند .

دركابل پرچميان وافراد وابسته به گروه هاي متذكره ،پيروزي شان را به يكديگر تبريك مي گفتند ، وهمزمان راديوهاي جهان ازبمباردمان رياست دولت ووزارت دفا ع واسارت احمدشاه مسعود ، سخن ميراندند كه درين استقامت راديوي ايران گوي سبقت رار بود .

اكنون سوال اينجاست كه برنده اين كشمكش كيست ؟ ونتايج اين تحولات چه خواهد بود؟

درست دولت كنوني افغانستان با سركوبي دشمنانش ، بيشتر از بيش مستحكم خواهد شد زيرا اگر رابطه دولت باعده اي سست گرديد ، با جمعي ديگر محكمتر شد ، كه ما اعلاميه سه تنظيم جهادي حركت انقلاب اسلامي ، اتحاد اسلامي وحزب اسلامي (خالص) را در پشتيباني از دولت نشانه خوبي درين مورد شمرده مي توانيم ،همچنان شتافتن نيروهاي كمكي از پروان ، كاپيسا ، كه درگذشته چندان رابطه گرمي با دولت نداشت ،خود يك دستاورد خوب براي رهبران فعلي دولت اسلامي بوده مي تواند .

برخي ازكشورها فيروهاي جنرال دوستم را در افغانستان سرنوشت سازمي انگاشتند ، ونقش اساسي را در سقوط رژيم كمونست كابل به ان ميدادند ، در حاليكه اين تحول قضيه رابصورت واضح تري باز گو نمود ، وفهماند كه اين مجاهدين اند كه زمام امور را در دست دارند ومليشياي دوستم چيزي بيش ترازنيروهاي تبليغاتي نيستند .

علاوه بر ان پاكستان وسعودي كه توانمندي جنرال دوستم را بيش از حد مجاسبه كرده بودند وبا دعوت وپذيرايي ان خواستند به فرد اينده ساز افغانستا در ارتباط بوده باشند حركت اخير ايشان را وادار به تجديد نظر در سياست شان خواهد كرد.

دلچسپ تر انكه پاكستان بخاطر همكاري حزب حكمتيار در مخالفت با دولت اسلامي به اعتبار خويش نزد مجاهدين ومردم افغانستان لطمه زده بود اما متاسفانه اينبار جمهوري اسلامي ايران اشتباه پاكستان را تكرار كرد زيرا چه از نظر مذهبي وچه از حيث سابقه كه نزد احزاب جهادي افغانستان ان كشور دارد - جبران ان براي ايران مشكلات زيادي را در پي خواهد داشت .

بهمگان روشن است ،جمعيت اسلامي افغانستان كه در حال حاضر پست هاي مهم رياست دولت ودفا ع را در اختيار دارد ، در طول جهاد وبخصوص بعد از پيروزي انقلاب اسلامي چه مشكلاتي نبوده كه بخاطر دفا ع از حقوق اقليت هاي مربوط حزب وحدت ونيروهاي دوستم .... متحمل نشده وبدليل حمايت از انها اتهامات گوناگوني امثال ائتلاف با كمونستان ، دوستي با شيعه (ازجانب خالص) متهم نگرديده !! و بحيث يك حامي نيرومندي ايشان را درطي اين مدت

ياري رسانيده ولي اين پيشامد پشت پازدن به تمام دلسوزي ها وهمكاري هاي جمعيت بود ، وخودرا محروم داشتن از يك متحد نيرومند ومعقول ، كه ناگزير در اينده نه چندان دور بهاي انرا خواهند پرداخت ، زيرا در افغانستان پشتون ها از اول با انها چندان روش خوبي نداشتند ، واكنون اعلام دشمني باتجكها بود - ويگانه راه حل در پيشروي انها اينست تا در صدد جبران اقدام شان بر ايند .

بسياري بر طرز فكر وعمكرد رهبران حزب وحدت مي خندند ، زيرا با افراطي گري ومواقف ديكته شده از سوي ايران چنان فضاي را برخود ايجاد كرده اند كه راه موفقيت در ان سراغ نمي شود ، چه حزب وحدت اسلامي نه تنها نماينده بخش كوچكي از هزاره هاست ، بلكه از حيث مذهب (شيعه) در انزوا قرار داشته وموقعيت هزاره جات در ساحه كم اهميت ترنواحي مركزي افغانستان ،ايشان رابصورت طبيعي محاصره كرده است .

بقول مسعود اين حركت از سوي نيروهاي به راه افتاده كه ازاراده مردم افغانستان مبني بر انتخاب رهبر اينده كشور خوف داشتند ، بلي جنگ در استانه تدوير شوراي اهل حل وعقد شروع شد ، تا بتواند برگذاري انرا به تعويق اندازد در حاليكه قبلاً دلايلي براي به تعويق انداختن ان از سوي بعضي از سازمان ها عنوان مي شد ، ودولت سر سختانه در جهت تشكيل شورا گام بر ميداشت ، بدين ترتيب شركت پير گيلاني در اين حركت اولاً علاقمندي انرا نسبت به اين شورا زير سوال ميبرد ،ثانياً ائتلاف بانيروهاي دوستم رابطه وي را بامتحد سابقه دارش حركت انقلاب اسلامي قطع مي نمايد .

تحريك نيروهاي دوستم از سوي كارمل ، براي انجام چنين امر خطرناكي بمثابه بخت ازمايي گروه پرچم نيز بوده كه دوستم ونيروهاي تحت فرمانش فداي اين هدف گرديد ، زيرا دوستم هم از نظر سياسي ميان قوت هاي مجاهدين بيگانه وتنهاست وهم از حيث مواضعش در شمال كشور بسيار اسيب پذير ميباشد ، ازان گذشته اگر شموليت دوستم درين ائتلاف بر عليه دولت اسلامي به كليه افرادش ثابت شود ، بسياري ازانها را بر خواهد انگيخت كه منجر به تجزيه وتضعيف فوق العاده دوستم خواهد شد .

شايد عده اي اين رويداد را به نفع حكمتيار بحساب ارند اما در واقع اينطور نخواهد بود چون ميان دولت وتعدادي ازاحزاب جهادي تجديد دوستي صورت يافته ، از سوي ديگر دولت توانست نظرمساعد قوماندانان سرشناس حكمتيار را در پروان ، كاپيسا امثال استاد فريد استاد فتح وكريم بخود جلب دارد ويك پشتوانه خوب كه رنگ قومي نيز دارد بخود كسب نمايد .

اگر دربي دلايل اين كودتاه باشيم مهمتر ازهمه اينست كه جميعت اسلامي بيش از حد درسياست از اخلاق استفاده ميبرد واين امر به بقاياي رژيم كمونست قبلي واحزاب ضعيف فرصت داده تا از وضع موجوده استفاده سوء نمايد .

همچنان دلچسپي كشور هاي همسايه براي ايجاد يك تحول ديگر در افغانستان است كه به حيث سوال بغرنج مطرح شده است زيرا سران دولت كنوني افغانستان متحيراند بخصوص ايران وپاكستان از افغانستان چه توقع دارند كه ما از عهده ان برامده نميتوانيم و ان نظام چه خواهد بود وان افراد كه ؟

شايد درك اين نكته براي مردم افغانستان دشوار نباشد ، مخالفت بيگانگان دال بر حقانيت ، استقلال وعدم وابستگي دولت اسلامي افغانستان است ، ازين رو پيشبيني مي شود كه پيوند مردم بادولت پيوسته انكشاف خواهد يافت .

بهر صورت اين اقدام دسته بندي جديدي ميان نيروهاي سياسي در افغانستان بوجود اورده در يكطرف احزاب جهادي ومردم افغانستان در جانب ديگر بقاياي رژيم كابل وچهره هاي ضعيف ووابسته به اجانب كه بدين ترتيب اينده ميتواند براي عملكرد هاي ايشان پاسخگوباشد و اينست معني سوء تفاهم كه هنوز تفسيرش چندان روشن نيست .

متن نامهء محترم پير سيداحمد گيلاني رهبر محاذ ملي اسلامي افغانستان ،عنواني استاد برهان الدين رباني در رابطه باجريانات اخيروتدوير شوراي اهل حل وعقد:

بسم الله الرحمن الرحيم

د افغانستان ملي اسلامي محاذ

NATIONAL ISLAMIC FRONT OF AFGHANISTAN

برادر گرامي ،فاضل محترم استادبرهان الدين رباني !

درين لحظات حساس تاريخي كه وطن عزيز ما در استانه يك تحول سرنوشت ساز قرار دارد وظيفه ديني ،ملي ووجداني خويش ميدانم كه باين وسيله نكات چند را طور تحريري به اطلاع شما برسانم .

جاي شك نيست كه جهاد قهرمانانه ملت مسلمان افغانستان در عين حاليكه وطن را از چنگال كفر والحاد رهانيد، مسوليت بس عظيم شالوده اينده انساني واسلامي افغانستان را بدوش ما رهبران وتنظيم هاي جهادي گذاشت .

درك همين رسالت تاريخي موجب ان بودكه تنظيم هاي جهادي هنگام درهم پاشيدن رژيم كابل ، در تحت شرايط آن وقت ، روي يك سلسله مبادي براي تاسيس دولت اسلامي افغانستان توافق كرده مراحلي راتعين كردند كه كشور بلاكشيده وملت رنجديده مسلمان ما را به ارمانهاي والاي تامين وحدت ملي ، حفظ تماميت ارضي ، تحكيم صلح واستقرار وتطبيق واقعي حق تعين سرنوشت هرچه نزديكتر سازد .

متاسفانه ازهمان اول دين خون شهيدان ، رنج اسيب ديدگان ، اشك يتيمان وحسرت بيوگان ناديده گرفته شده ازمبادي قبول شده ياتخلف صورت گرفت ويادر تطبيق ان سهل انگاري بعمل امد بطوريكه شوراي اهل حل وعقد موردنظر درختم مرحله دوم درموعد معينه ان امكان پذير نبود .

محاذ ملي اسلامي افغانستان كه عليرغم موجوديت تفاوت در طرق ووسايل رسيدن به هدف باجميعت اسلامي افغانستان در مورد دورنماي اسلامي ،سياسي ، اقتصادي واجتماعي افغانستان نقاط نظر نزديك ويامشابه دارد تلاش جدي ورزيد تا مدت رياست شما تمديد گشته برايتان موقع داده شود كه به همكاري وتفاهم باهمه تنظيم هاي جهادي يك شوراي اهل حل وعقد واقعي را كه انعكاس دهنده اراده ازاد مردم مسلمان افغانستان باشد بميان اوريد .

بدبختانه هر قدر موعد تشکیل شوراي اهل حل وعقد نزدیکتر مي شد به همان اندازه اتهامات مبني بر تخلف از لایحه مربوط زیادترمي شد تا انکه در هفته ها وروز هاي اخیر اکثریت تنظیم هاي جهادي بادایر شدن این شورا بشکلي که مورد نظر جمیعت اسلامي است مخالفت خویش را اعلام داشته اند .

در پرتواین شرایط محاذ ملي اسلامي افغانستان باین باور رسید که دایر شدن چنین شورا بذات خود باعث درگیري یك جنگ داخلي شدید میگردد که تلفات هنگفت جاني ومالي موجود را بمیزان قابل ملاحظه افزایش خواهد بخشید واگربا قطع نظر این قیمت گزاف شوراي مذکور هنوزهم با اصرار شما دایر گشته وشما رابحیث رئیس دولت انتخاب کند ، که البته مطمع نظرشما است ، به شما ان مشروعیتي رانخواهد داد که بموجب ان بتوانید وحدت ملي راتامین وصلح وامنیت را درکشور براقرار ساخته ، زمینه رابراي رفع احتیاجات مبرم واولیه مردم برابر نماید چي رسد به اعمار مجدد وپایه گذاري انکشاف اقتصادي واجتماعي .بنابران محاذ ملي اسلامي افغانستان وشخص خودم با جمعیت اسلامي افغانستان وشخص شمامجالسي متعددي تشکیل داده در ان پیشنهاد کردیم که ازیك طرف یك کمسیون بازرسي تشکیل گردد تا اتهامات وشکایات را بررسي کرده در صورت لزوم تصحیحات لازم را بعمل اورد وباین ترتیب هم زمینه براي اشتراك تنظیم ها ، ولایات وولسوالي هاي ناراضي فراهم گردد وهم اعتبار ملي وبین المللي شورا افزایش یابد ، از طرف دیگر شورا قیادي یعني مرجعي که تاوقت تاسیس ارکان هاي ممثل اراده ملت صلاحیت تعمیل این اراده را دارد ، تشکیل جلسه داده راهي را براي بیرون رفت از این بن بست جستجو کند .

باکمال تاسف شما به هیچ یك از این خواسته ها جواب مثبت نداده بردایر شدن شورا به شکل فعلي ان وانتخاب شدن خود بحیث رئیس دولت توسط ان اصرار ورزیدید .من بحیث یك فردي که جز رفاه وسعادت ملت مسلمان افغانستان ارزوي نداشته وبحکم اعتمادي که ملت مجاهد افغانستان بمن داشته اند خودرا مسؤل تحقق ارمانهایشان میدانم شما را یکبار دیگر به عواقب وخیم این اصرار شما متوجه ساخته متذکرمي شوم که ممکن است انچه در نتیجه ان حاصل گردد کاملاً متضاد باچیزي باشد که شما وتنظیم شما براي افغانستان ومردم مسلمان ان ارزو دارید

(وماعلینا الاالبلاغ)

پیر سید احمد گیلاني رهبر محاذ ملي اسلامي افغانستان : ۱۳۷۱/۹/۲۹ کابل

متن نامهء انجنیر حکمتیار امیر حزب اسلامي افغانستان مبني بر حله معضله واعاده صلح وثبات :

بسم الله الرحمن الرحيم

گلبدين حكمتيار

امير حزب اسلامي افغانستان

Gulbuddin Hekmatyar
AMIR OF
HEZB ISLAMI AFGHANISTAN

تاريخ :
DATE:

شوراي محترم اتحاد علماي افغانستان

السلام عليكم ورحمة الله وبركاة

در راه نجات كشور از وضع دردناك فعلي ودر راه خاتمه جنگ واعاده صلح پايدار واقامه نظام اسلامي ازبارگاه الهي موفقيت هاي مزيد براي تان مسئلت مي جويم

باهيئت اعزامي تان مفصلاً تفاهم نمودم واز همكاري صادقانه حزب اسلامي بامساعي علماي كرام اطمينان داده واقتراحات متعدد خودرا در رابطه باحل بحران كشور بايشان در ميان گذاشتيم كه اينك مكرراً وباختصار وتحريري به مطالعه شما تقديم مي كنم .

١- حكومت فعلي كه مسؤل همه حوادث خونين گذشته وبي امنيي ها، جنگ وخونريزي ها در كشور است بايد به يك حكومت مؤقت قابل قبول براي همه تفويض گردد.

٢- درعوض رئيس دولت فعلي يا كس ديكري ازجمله رهبران توسط شوراي علماء وقوماندانان تعين شود ويافردي غير از رهبران درنتيجه توافق ميان رهبران انتخاب گردد ، ترجيح ميدهم كه حكومت موقت مشتمل برشخصيت هاي صالح مجاهد غير متنازع فيهابوده رهبر در ان عضويت نداشته باشد ، باسر پرستي مولوي محمد نبي محمدي نيز موافقم مشروط به انكه در كابينه حكومت فعلي تغيراتي به توافق رهبران ويابه اساس فيصله شورا اتحاديه علمابوجود ايد.

٣- درشش ماه اينده بايد براي انتخاب رئيس دولت وتشكيل شوراي ممثل همه اقشار ملت انتخاباتي برگذار گردد -كه در مورد مواصفات راي دهنده وراي گيرنده شوراي اتحاد علما فيصله نمايد .

٤-متصل انتقال قدرت به حكومت موقت بايد كمسيون باصلاحيتي براي اجراي انتخابات تشكيل گردد حكومت حق هيچنوع تشبث ومداخله در امور انتخابات رانداشته باشد .

٥-ترجيح ميدهم كه اعضاي حكومت موقت وكمسيون برگذاري انتخابات در حكومت منتخب وشوري منتخب شركت نكند .

٦- عمليه تشكيل شوراي اهل حل وعقد بايد تصحيح گردد ونمايندگان ولسوالي ها طبق لايحه مربوطه از طريق شورا هاي متفق عليه ولسوالي ها معرفي گردد وصلاحيت نظارت بر اعمال حكومت موقت ،

تصويب لوايح ، وضع خط مشي ، تصرف در سرمايه هاي ملي وتصويب بودجه حكومت به اين شورا تفويض گردد .

٧-بايد تدابيري اتخاد شود كه امكانات دولت به نفع يك گروه عليه ديگري مورد سؤاستفاده قرار نگيرد ، پول اسلحه وسائر امكانات مربوط به دولت كه در چند ماه گذشته توسط مسؤلين دولت حيف وميل شده است بايد توسط يك هيئت باصلاحيت بررسي گرديده در زمينه استرداد وجبران ان اجرات اصولي وجدي صورت گيرد ،تااحدي در اينده به اينوع اعمال ناجايز متوسل نشود .

٨-اگر شرايطي در كشور فراهم شود كه احدي نتواند از طريق سازش كودتاها ، مداخلات خارجي واعمال قوه به قدرت برسد واستفتااز ملت وبيعت معلن وغيره مكره مردم شرط اساسي براي جواز امارت وزعامت امير وزعيم شمرده شود وبدينترتيب جلوتكرار تجارب تلخ وخونين گذشته گرفته شود ماهيچ امتيازي ديگري را نميخواهيم .

بايد مطابق به نص صريح قراني اين سنت را احيا كنم كه امانت خلافت توسط امت به اهل ان سپرده شود وزعيم وامير تنها زماني زمام امور را بدست گيرد كه مردم او را براي اينكار انتخاب كند واهليت واستعداد اينكار را دراو مشاهده نمايد ، بايد تلاش ناجائز براي رسيدن به قدرت وابقاي زعامت خودرا حرام بشمارد وبه اميري كه از طريق استفتااز مردم ودر نتيجه بيعت معلن وغير مكره انتخاب مي شود بايد صلاحيت هاي كامل شرعي تفويض شود انتخاب وزراء ، واليان سفرا وساير پرسونل دولتي از صلاحيت هاي او باشد واز توزيع وزارت ها بر احزاب وتشكيل حكومت مخلوط خوداري شود

١٠- رئيس دولت بايد مكلف به مشوره بانمايندگان مردم باشد او از خود سري وخود كامگي اجتناب ورزد .

١١- به مرجعي كه حق نصب امير داده شده است حق عزل ان نيز داده شود .

١٢- حكومت موقت مكلف به تشكيل اردوي اسلامي براساس دوره مكلفيت گردد وهمه افسران مؤمن مخصوصاً انانيكه درجهاد اشتراك ورزيده اند در اردوي اسلامي تنظيم شود واسلحه ثقيل جمعاً به اردو مسترد شود .

١٣-اگرهمه رهبران به اين حل توافق كند مابهرنوع تعاون صادقانه ومخلصانه حاضريم درغير ان ما مجبور خواهيم بود راهاي رابراي حل بحران كشور جستجوكنيم كه براي ماميسر باشد اگر نوافق باهمه مستعر باشد ناچار باعده محدودي توافق خواهيم كرد وبه اقداماتي كه انرا به نفع اسلام مي شماريم متوسل خواهيم شد .(انشاالله العظيم)

« حكمتيار » ١٣٧١/١٠/٣

جهادي ادب

څه وکړو ؟

پ – فیض زاده ملال

څه وکړو دزړه په زخمو څه وکړو؟
ژونده په دي توروختو څه وکـړو؟
خـار څنگه دگل په بیه رانیسـو
رنگه !په دي رنگ بـازار وڅـه وکـړو؟
درد دبیلتانه داوښکو تـوان یــوړ
وسه ! په ظالمو غمو څــه وکــړو ؟
نه ډیوي دستورو نه سپوږمي خانـدي
اوس ددغو شپو په تیارو څه وکړو ؟
وریځي دي غمجني په شییو ژاړي
نوحه! په دي قارتوفانو څه وکړو ؟
داسرتوري شپي چاته پوړني کړو
ورك منزله ! موږ په سپیدو څه وکړو؟

استاد غیرت

ژړبه ښکاره شي

په گـردو پټـي پـردي بـه ژرښکاره شــي
تـرپـردولانـدي څیرې بـه ژرښـکاره شــي
څوك یو څه وایي څوك بل څه اوڅوك بل څه
حقیقت او مسخري بـه ژرښکاره شـي
چي اسلام یـي وسیلـه ۇ دتبلیغ خـپـل
ددي خلكو دانـاري بـه ژرښكاره شــي
خداي(ج) دي حق اوغلط خلك به افشاءكا
دا جنبي او داپـري بـه ژرښکاره شـــي
چي دځان په خـاطـر لوبي په اسلام كا
دا نـاولــي ارادي بـه ژرښـكـاره شـــي
وطن ویښ شو غلامـي ته غـاړه نـه ږدي
دپردو خلكو نـخري بـه ژرښکـاره شـي
چي هیواد یي په سرو وینو كښي لـړلـي
ددي لوبو ننداري بــه ژر ښـكـاره شـــي

****

xxxxxxxxxxxxxxxxxx

یو شان ندي نصیبونه قسمتونه
کاتبانو دازل کړي فرقونه
چابانکونه دي ډك کړي په ډالرو
چا پخپلو خدمتونو تاریخونه

******

دیوه کار عیش او نوش هوسراني وي
دبل کارمجاهد وي قرباني وي
خطراتو نه هغه کله وریږي
چي يي برخه دتاريخ قهرماني وي

******

شخصي نظام چاته ډیر څه ورکوي
چاته خپل حق پوره نه ورکوي
کله دچا مخ ښکلوي په مینه
کله بیا ګوره سوك په خوله ورکوي

******

آزادي که خيراتي وي يا دچامهرباني وي
افتخار به پري ونه کاکه همت يي افغاني وي
قرباني چي پکي نه وي هغه کله لوي اختر دي
ازادي سره تړلي ډيره لويه قرباني وي

******

یو پټ غلي احساس دي چي ارام نه پریږدي
په اور مي کړوي لکه چي خام مي نه پریږدي
جرئت مي زياتوي دومره په ځان يمه پوه شوي
غافل له خپله حقه او غلام نه پریږدي

مرحوم استاد الفت

غزل

فریحان شیدا

نن دزړه دردونو کښي راګير شومه
بيا څه په سوچونو کښي راګير شومه
ماخو وي که خيروي ترينه خلاص شومه
نويو شان غمونو کښي راګير شومه
ګوره آشنا ستا په بي رخي کښي زه
څه رنګي فکرونو کښي راګير شومه
څه به ترينه ځان وساتم زه دلته
بد په فريبونو کښي راګير شومه
زه يم ساده لوحه زر تير وځمه
ځکه دي جالونو کښي راګير شومه
نه وم مي پرست ،خوچي سرشارحسن
مست کړم په جامونو کښي راګير شومه
څنګه به يي وځم له خوروزلفو
زه شيدا جالونو کښي راګير شومه

تکل

سوال

شهرت - ننګیال

زه د خپلو سرګرادانه خیالونو او پریشانه فکرونو په ړبوکیو کي د میرانشاه دموټرو په اډه کي فلاینګ کوچ ته وختم -دپیښور دنسبتاً تاوده ژمي یوه سړه اوچیچلي ورځ وه -په اډه کي دمیرانشاه بنو ،ټل ،هنګو او .... موټر په یوه لیکه ولاړ وو ، خلك یویو دوه دوه موټروته ختل او روانیدل او له هغه لوري ډك ډك موټر دسپرلیو دکوزیدو لپاره دریدل .

دپیښور اواډي شاوخوابازارونه هماغسي ګرم وو، دکانونه خلاص وو اودکاراوبار ټول وسایل او زرایع فعال وو دژوند هنګامه ښه ګرمه وه ، دلته ژوند دخپلي حقیقي معنا څرګندوي کوله چي نه پکي دمرګ ویري دخلکو په مریو منګولي خښني کړي وي او نه داقتدار جګړو دخلکو په سر ،مال او عزت داولګولي وو.ماته دکابل ښار او بازارونه په یاد شول چي په هره څه کي یي دمرګ تصویر ښکاریده ، په هرواټ ،هره کوڅه او هر چوك کي یي مرګ کمین نیولي وو، هلته هم خلك ګرځیدل ، خو بي اطمینانه داسي لکه چي هر قدم دمرګ په لور اخلي ، دټولو حواس چاودنو او توغندیو ته څارو وو ، دکابل بازارونه تړلي او دټوپونو او توغندیو لمبو یي په حسن او جمال اور پوري کړي ؤ ، پرکابل دویر او ماتم څادر غوړیدلي ؤ هلته دفقر ، لوږي ، ویري ، وحشت او ویر راج چلیده ،نه په چا ژوند پوري ؤ نه مال او نه هم اولاد ، یواځي مرګوکومي شلولي ؤ او دځوانیو او سرونو لویي ګډ کړي ؤ هلته چي دهر څه کاختي او قیمتي وه یواځي دمرګ او وینو ارزاني وه .

***

دمیرانشاه دموټرو په اډه کي هغه پخواني بیر اوبارنه ؤ ، یووخت به په هر ولسو شلو دقیقو کي یو موټر ډکیده ، هغه وخت چي په وطن کي دحق او ازادي سنګرونه تاوده وو له همدي اډي به د ببرسرو مجاهدینو ډك ډك موټر په هرو شلو دقیقو کي روانیدل ددوي په سرو عقابي سترګو کي دراتلونکي معرکي دټولو خونړیو حادثو او حماسو تصویرونه په ځلیدو وو ، داببرسري دمرګ په سودا پسي روان وو ، دبمونو تر باران او دګولیو تر ږلي یي (لاندي) دماینونو پر سر داورونو په لمبو کي اوږده سفرونه لنډول خو ددوي خولي به له خندا ډکي وي ، سبحان الله -هغه وسپنیزه ارادي، هغه پیاوړي متې او هغه هسکي شملي چي له توپ او بم نه بي پروا مخ په وړاندي روان وو ، خو نن هغوي هم حیران دي چوپ دي ، بي درکه دي - هغوي څه غوښتل اوڅه وشول ځکه خو اوس په ډیر ځنډ هم یو موټر نه ډکیږي .

زه چي موټر ته وختلم له ښه ځنډ وروسته مي ایله دوه تنه نور په موټر کي ناست ولیدل ، په اډه کي دموټرو هنداروته یو په بل پسي اخبار خرڅوونکي او سوالګر دریدل ، سوالګرو به هنداره وټکوله خوله به یي دعجز او خواري دعلامي په توګه جینګه کړه او لاس به یي ددعا په رسم پورته کړل او تر هغي به ولاړ وو چي څه به یي نه ووبود کړي ، پدي کي دهر عمر انسانان وو بوډاګان هم وو ځوانان او ماشومان هم او تورسري هم .

ماله اخبار واله نه دجنګ ورځپاڼه واخیسته ، دسرلیکونو په لوستلو مي اخبار له نظره تیر کړ بیا هم په کابل کي دجګړي او توغندیو دویشتلو خبرونه وو ، بیا هم داقتدار دمسابقي دخونړیو نښتو خبرونه چي ډیري ځواني یي له خپل هوس نه قربان کړي وي ، جنګ دخونړي جنګ خبرونه خپاره کړي ؤ .

اخبار مي واړاوه راواړاوه خوزړه مي تنګ شو ، ددغو خبرونو لوستلو ته مي نوره حوصله نه وه اخبار مي قات کړ او بیا دخپلو خیالونو او سوچونو هغه رنګیني دنیاته ورننوتم .

نپوهیږم چي زه به دخپلو خیالونو په وزرنو تر کومه الوتلي وم چي دموټر په دروازه کي یوي ښځي ، یوي اشنا او پیژندویه ښځي داسي په ځمکه کي نسکور کړم لکه چي دخیال وزرونه مي بوټ مات شوي وي .

ماپه غړیدلو سترګو دخپل مخکني دفتر یو مامور لیده چي ماشوم یي په غیږ کي دي او دسوال لاس یي دهر یوه مخي ته نیولي ، ماژر مخ واړاوه ، په زړه کي مي وګرځیدل چي هسي نه زهیر شي او پدغه لنډ وخت کي مي دهغه دماضي ټول یادونه او خاطري په زړه کي راغبرګي شوي ،

مابیرته دهغه په خوا مخ واړاوه خو دهغه په سترګو او ښیره

كي مي زهير توب او خجالت هيڅ نښي ونه ليدي ، هغه ماته نيغ نيغ كتل ، دژوند درانده پيټي او دغريبي او خواري ستونزوله هغه څخه داهيره كړې وه چي پرون څوك ؤاو څه يي كول او نن څه دي او څه كوي .

دده په غيږ كي وړوكي ماشوم به دهر يوه سترګوته ژور ژور وكتل او بيا به دخپل پلار خبروته ځير شو چي ويل يي :

دخداي په نامه لږ امداد وكړي ، ماشوم مريض دي ..... ددي صحني په ليدو زه داسي تلولي شوم چي داهم راڅخه هيره شوه چي دهغه په تش لاس كي يو دوي روپي كيږدم ، هغه ماته په غلا غلا نه بلكي رډ رډ كتل ، خو ماداسي ګڼله لكه چي ما نه ويني ، نه مي پيژني خو داسي نه وه ده زه ليدم او پيژندلم خو دي خپلي بدي ورځي لدي څخه بي پروا كړي ؤ چي نن هغه دسوال كچكول دچا په وړاندي نيولي .

شايي هغه زما غوندي نور ډير پيژندوي هم ليدلي وي خو داپيژندوي هغه ته څه كولي شي ، ځكه خو هغه نن هيڅوك نه پيژندل ، پيژندوي او ناپيژندوي ورته يوشان ووده يواځي هغه څوك پيژند ل چي ده ته پيسي ونيسي او دبيګاپاره دخپل ژونداو جونګړي ډيوه پري بله كړي .

كه څه هم دده كره وړه او ټيپ دحرفوي سوالګر نه وو اوس هم دده ځيري هماغه پخواني وقار ساتلي وو خو مجبوري بده ده :

عالمه ماته ګناه نشته

ګناه دوخت ده چي يي زه مجبوره كړمه

ماپه هغه پسي وكتل بل موټر ته ودريد او هر يوه ته يي دسوال او ننواتي لاسونه اوږده كړل چابه څه وركړل او له ديرو به تش لاس روان شو .

زه دده دماضي په يادونو كي ورك شوم ، له نن نه لس دوولس كاله مخكي وختونه مي سترګوته ودريدل هغه وخت چي دي دجمعيت اسلامي په فرهنګي كميټه كي مامور ؤ ، دميز شاته به ناست و، د خريداري دهيئت غړي ؤ او نن جمعيت دپادشاهي پر تخت تكيه كړي ، دكابل پادشاهي له هغه تنظيم سره ده چي دي يي متعهد ؤ ، مامور يي ؤ سابقه دار او مخلص مامور .

هلته چي داقتدار دوزلوبي په كشمكش كي په ويجاړاو جنګ ځپلي كابل كي دده دپخواني دفتر انډيوالان دوزارتونو ، سفارتونو اورياستونو په مزوكي له هرڅه بي پروا لګيا دي داقتدار نوي خوبونه ويني او ددغو خوبونو په تعبير پسي دبي ثباتي ، بي امني او دربدري دټولو ترخو واقعيتونو په توپانونو كي يواځي دخپل اقتدار دوام ته دسرخير غواړي ،زه دهغه له وضعي ښه پوهيداي شوم چي دسوال لپاره دده له سپيرو او وچو شونډو راوتلي هر ټكي دهغه په زړه لكه تيره چاړه داسي ښخيري خو ځمكه كلكه او اسمان لوړدي ، كله مرګ هم له خوارانو سره ملګرتيا وشلوي كه نه نو :

مرګي خو ښه پرده پوش دي

بده نيستي ده چي سيالان ....

دفرهنګي كميټي هغه رئيس چي ده به يي په مخ كي لاس په نامه منډي وهلي او څوكاله يي له هغه سره دخدمت سابقه لرله نن په آزاد كابل كي دسري مياشتي دخيريه مؤسسي رئيس دي .

او هره ورځ په كابل راډيو كي ددغو خبرونو انګازي دډيرو غوږونه تخنوي چي نن دسري مياشتي لوي رئيس له يوشمير بيوزلو سره دومره نغدي او دخوراكي موادو اوالبسي مرسته وكړه ، خو دكابل وږي اوفقر ځپلي ولس ددغي مرستي يواځي همدا تش خبرونه دراډيوله څپواوري ځكه خووران شوي كابل دخواري او لوږي له لاسه دسوالګرو په يوه ښاريه تبديل شوي اولكه دافريقادقحطي ځلپوسيمو غوندي هره خوا دفقر او لوږي بيداد ګډ ډي چيري چي وږي ډير او له شماره تير خو ماړه دګوتو په شمير دي

نن هلته دواكمنو دكلونو كلونو خدمتګار او همكار دسوال كچكول په لاس په بازارونو خيرات ټولوي ، پرون دهجرت او پرديسي په دياركي چي لاپه وطن كي دكفر او كمونيزم واكمني وه دهغه لاس ترخولي رسيده خونن چي كابل ازاد او اسلامي حكومت دي هغه خيراتونه غواړي او په بازارونو دسوال كچكول ګرځوي .

دښاغلي عصمت قانع شعردي :

خزاني دبيت المال مي ښاماران خوري

څوك مي ويني څوك مي غوښي څوك مي ګان خوري

خوپه كابل كي هر څه دسوال دي ، واكمني هم دسوال ده ، سازشونه اوائتلافونه هم دسوال دي او دچا دتائيد او ملاتړ جلبول هم په سوال .

هر څه په سوال روان دي اوپه سوال چليږي ، ددولت او حكومت زرايع او دارو مدار هم په سوال روان دي ،دچاخبره بس دسوال ياري پكي روانه ده چي په هره لحظه كي يي دټوټي كيدو او له منځه تلو له ويري هيڅ لوري هم ډاډه ندي دچاخبره : دسوال ياري ده اوس به رنګه بنګه شينه .

ځكه خو په هرڅه دبي باوري اوعدم اعتماد توري لوخړي ناستي دي ، او هرڅه دسوال ښه نيولي او لاينحله معماتري جوړه شويده .

بسم الله الرحمن الرحيم

ارشاد نبوي

ترجمه :

بخدا سوگند که از ناداري وفقر شمابيم ندارم ليکن از آن ميترسم که دارايي ومال شما همچو گذشتگان تان وسعت يابد وآنگاه مانند انها در دوستي آن ازهمديگر سبقت بجوئيد ودر نتيجه همانطوريکه پشينيان تان راهلاك گردانيد شمارا نيز نابود گرداند

بخاري ومسلم

وګړي واړه کار ونه خپل کا

مردان هغه دي چي کار د بل کا

څوک چي آرام ګټي، د نیکو نام ګټي

خوشحال خان خټک

دخوږ زړونو دارو به تل کا

لیکونکی: عزیزالدین وکیلي

کابل افغانستان